ځانګړې ګڼه

# زېرې

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ

د تاسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

چهارشنبه، (۲۳- ۲۴مه) ګڼه، درېيمه دوره، پرله پسې (۳۴۳- ۳۴۴مه) ګڼه، د ۱۳۹۸ل.کال د حوت (کب) د مياشتې ۲۸مه، د ۱۴۴۱هـ.ق. کال، د رجب د مياشتې ۲۳مه او د ۲۰۲۰ز.کال، د مارچ ۱۸مه.



پوهاند صديق الله رښتين زموږ د هېواد په معاصر ادبي- فرهنګي بهير کې د پياوړي ليکوال، څېړونکي، شاعر، د پښتو ژبې او ادبياتو د استاد، نوميالي ژبپوه، ادبپوه ژورناليست او مطبوعاتي شخصيت په توګه زموږ د معاصر ادب او فرهنګ په ډګر کې له لوړ نوم او شهرت څخه برخمن دی. د افغانستان د علومو اکاډمي وياړي چې د هېواد د دغه نوميالي علمي- فرهنګي شخصيت د زوکړې سلمه کاليزه په يو علمي- څېړنيز سيمينار نمانځي او د زېرې جريدې دغه ګڼه يې د استاد د ګڼ اړخيز علمي- فرهنګي شخصيت په باب د ليکوالو ليکنو او څېړنو ته ځانګړې کړې ده. د استاد اروا د څښتن تعالی له درباره ښاده او ورته مغفرت غواړو.

په درنښت

څېړنوال دکتور عبدالظاهر شکيب

د افغانستان د علومو اکاډمۍ سرپرست رئيس

**د اداري يادښت:** دا ګڼه چې د هېواد د نوميالي ليکوال او ژبپوه پوهاند صديق‌الله رښتين د زوکړې سلمې کاليزې علمي- څېړنيز سيمينار لپاره ځانګړې شوې وه. د ځينو ستونزو له امله سيمينار و ځنډېد، خو په وياړ يې دغه ځانګړې شوې ګڼه په کټ مټ بڼه خپره شوه.



## د استاد رښتين د علمي- فرهنګي ژوند وروستۍ دوه نيمې لسيزې

۲مخ



څېړنوال محمد اصف احمدزی

## د پوهاند رښتين په اړه د ترسره شوو علمي- څېړنيزو سرچينو جاج

پوهاند صديق الله رښتين (۱۲۹۸- ۱۳۷۷ل) د هېواد هغه علمي او فرهنګي شخصيت و چې په خپل ۷۹ کلن عمر کې يې د هېواد د فرهنګ، ادب او پښتو ژبې د بډاينې او پياوړتيا لپاره د قدر او ستاينې وړ کارونه کړي دي، همدا ده چې د ده په ژوند او تر وفات کېدو وروسته يې ليکوالو او څېړونکو له تېرو کابو اتو لسيزو راپدېخوا د ژوند، علمي- فرهنګي هلو ځلو او آثارو په باب په مختلفو وختونو کې قلمونه خوځولي، اوسني او راتلونکو نسلونو ته يې ور پېژندلی دی.

د ده په اړه مستقل آثار ليکل شوي، د نورو آثارو په ترڅ کې په ضمني ډول هم معرفي شوی، په ياد يې غونډې او سيمينارونه جوړ شوي. د دوکتورا په کچه ډيزرټېشنونه پرې کښل شوي دي چې دلته د همدغو موضوعاتو لنډ جاج په ترتيب سره اخلو.

### اثار

۱- **"د رښتين خبرې":** هغه اثر دی چې م.ر شفق طورو کښلی او په مردان کې د اوسي ادبي ټولنه (طورو) له خوا په ۱۹۷۸م (۱۳۵۷ل) کال کې چاپ شوی دی. دا يو ادبي راپورتاژ دی چې د ښاغلي رښتين صاحب او د ادبي ملګرو ترمنځ کومې خبرې شوي، په کې د قلم په ژبه ثبت شوې دي.

۲- **د پوهاند رښتين د ژوند هنداره:** د پوهيالي لعل پاچا ازمون ليکلی اثر دی چې په ۱۳۷۹ل کال په ۱۸٦ مخونو کې چاپ شوی چې د استاد رښتين د ژوند پېښو او د آثارو د پېژندنې په باب تحقيق دی.

۳- **د لوی استاد پوهاند رښتين ياد:** د استاد رښتين د لومړي تلين (۱۳۷۸ل) د ياد غونډې د مقالو او د هغه د مړينې په مناسبت د خواخوږيو پيغامونه او په ډله ييزو رسنيو کې د پوهاند رښتين د علمي- فرهنګي او ټولنيز شخصيت په باب د خپرو شويو نظرياتو مجموعه ده چې په ۲۰۰۰م (۱۳۸۰ل شاوخوا) کال کې په ۴۹۰ مخونو کې چاپ شوې ده.

۴- **سبا توري مجله (درېيمه ګڼه)**: دغه مياشتنۍ مجله چې فضل الله رښتين يې مسئول مدير و، د ۱۳۷۹ل کال درېيمه ګڼه يې د اروابښاد رښتين د دويم تلين په ياد مقالو ته ځانګړې شوې ده. په دې ګڼه کې پر شعرونو سربېره د مختلفو ليکوالو له خوا شل مقالې خپرې شوې دي. په دې ګڼه کې د ۹ تنو ويناوالو خبرې او ۱۴ تنو مقالې راغلې چې د استاد رښتين د ژوند، آثارو، افکارو، علمي او فرهنګي هلوځلو په اړه دي.

۵- **د سبا ستوري مجله (دوهم کال، لومړۍ- دوهمه ګڼه):** د سبا ستوري مجلې د ۱۳۸۰ل کال کې لينديۍ- کب مياشتو لومړۍ- دوهمه ګڼه د اروابښاد د درېيم تلين د کاليزې په مناسبت د مقالو، شعرونو او پيغامونو خپرولو ته ځانګړې شوې ده.

٦- **د علامه پوهاند رښتين بابا ياد:** د استاد رښتين د اتم تلين د يادغونډې د مقالو، پيغامونو، ګزارشونو او شعرونو ټولګه ده چې په ۱۳۸۵ل کال د فضل الله رښتين په زيار په ۲۹۷ مخونو کې خپره شوې ده[1].

۷- **د پښتو ژبې او ادبياتو په وده کې د پوهاند صديق الله رښتين ونډه:** دا د هغه علمي – څېړنيز اثر نوم دی چې د علومو اکاډمي د يوې تحقيقي رسالې په توګه څېړندوی شهزاده توحيدمل په ۱۳۸۷ل کال کې تکميل کړ او په ۱۳۸۸ل کال د علومو اکاډمي له خوا خپره شوې ده. په دغه ۱٦۰ مخيز اثر کې د پوهاند رښتين پېژندنه، د هغه د آثارو تحليلي کتنه او د ده په باب د پوهانو او ليکوالو نظريات را اخيستل شوي دي.

۸- **د پوهاند صديق الله رښتين د ادبي – فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه:** د څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي د (پي ايچ ډي) تحقيقي رساله ده چې په جلال آباد کې د ميهن خپرندويه ټولنې له خوا د ۱۳۹٦هـ. ش کال په حمل مياشت کې په ۴۳۲ مخونو کې چاپ شوې ده[2].

پردې آثارو سربېره په کوهاټ کې رښتين ادبي جرګې د «رښتين» په نامه دوه مياشتنۍ ټولنيزه او ادبي خپرونه په ۱۳۸۴ل او ۱۳۸۵ل کلونو کې خپره کړې ده. دغه راز د «ورښت» مجلې د ۱۳۸۵ل کال دوهمه ګڼه کې د اروابښاد پوهاند رښتين د ژوند، فن او شخصيت په هکله د لعل پاچا ازمون مرکه خپره شوې ده[3].

### ډيزرټېشنونه

۹- **"د پوهاند صديق الله رښتين د ادبي خدماتو تحقيقي او تنقيدي جائزه":** هغه څېړنه ده چې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز علمي غړي څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي د پېښور پوهنتون په پښتو څانګه کې د خپل دوکتورا د ډيزرټېشن په توګه ليکلې او د ۱۳۹۵هـ. ش کال د تلې مياشتې په ۱۲مه يې ترې دفاع وکړه[4]. دغه اثر چې وروسته چاپ هم شو، مخکې يې يادونه وشوه. ۴مخ



څېړنپوه مولاجان تڼيوال

## ((د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه)) نومي اثر ته لنډه کتنه

دغه اثر زموږ د هېواد پياوړي ليکوال، اديب، استاد او ژبپوه صديق الله رښتين ليکلی دی. دا کتاب لومړی ځل په ۱۳۲٦ل کال کې پښتو ټولنې چاپ کړی دی، دويم ځل په ۱۳۸۳ل کال کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز له پېښوره خپور کړی دی. دويم ځلي چاپ د مخونو شمېر يې ۱۴۱ دی.

دا يوه جوته خبره ده چې د يوې ژبې وييزه پانګه (لغوي زخيره) د ټولنيز پرمختګ او کارونې په اساس پياوړې او بډايه کېږي، خو دېته مو هم بايد پام وي، چې په ژبه کې د اشتقاق او ترکيب ونډه هم پيکه او سپکه نه ده؛ په ساده ژبه ويلای شو چې د اشتقاق او ترکيب د عمليې په واسطه نوي وييونه را پيدا کېږي او هر اړخ په خپله ساحه کې د پاملرنې وړ ونډه لري، چې د اړتيا څخه يې په هيڅ وجه او دليل سترګې نشي پټېدلای، ځکه که چېرې موږ د خپلو ژبو د سالمې ساتنې پلوي کوو، نو اړينه ده چې اشتقاق او ترکيب ته ژوره پاملرنه وکړو. دا لړۍ موږ د ژبنۍ ويي‌پانګې د نيستۍ څخه خلاصولی شي، خو په دې اړ چې پر دې لاره دويو (اصولو) ته په پاملرنې سره پلونه واخلو.

په پورته ياد شوي کتاب کې په دواړو برخو باندې ډېره اوږده څېړنه شوې ده او د نويو ترکيبي او اشتقاقي وييونو د رامنځته کولو لارې ګودرې په ګوته شوې دي. په دې اثر کې ډېر ګټور- علمي معلومات خوندي شوي دي، د ساري په ډول د کتاب د متن په اوږدو کې ويل شوي دي، چې نوم، ستاينوم او نور بسيط وييونه د ترکيبي وييونو په جوړولو کې په ترتيب سره د اهميت وړ دي، د اثر ليکوال ډېر زيات ژبني توکي په خپل اثر کې تر





څېړنې لاندې نيولي او د اوږدې او ګټورې څېړنې په موخه يې ډېرې علمي لار- ښوونې کړې او د هغوی پايلې يې په بېلګه کې وړاندې کړې دي.

د دې علمي کتاب بله ګټه دا ده چې ډېره روانه او سليسه ژبه يې کارولې ده او په کتو سره يې سړی په ډېرې اسانۍ سره خپل مطلب موندلای شي. دا يادونه هم بايد وکړو چې زموږ مشرانو پوهانو له خوا ليکل شوي اثار په اسانۍ سره نشي ترلاسه کېدای، که کوم پخوانی اثر پيدا شي نو سم‌دلاسه يې ځينې خپرنيز مرکزونه بې له دې نه چې سمو چاپولو ته يې فکر وکړي په بيړه يې چاپوي؛ نو ځکه ډېرې غلطۍ په کې ليدل کېږي او د لوستلو په وخت يې ستونزې را ولاړوي. د دې لپاره چې دا او دېته ورته نورې تشې ډکې شي که د علومو اکاډمي د داسې اثارو د چاپولو تابيا وکړي دا به يې يو ستر علمي او ټولنيز خدمت وي.

د پوهاند صاحب رښتين اروا دې خوشحاله وي او پر ګور يې نور شه!

څېړنپوه ظاهره هنګامه

## پوهاند رښتين د شاعر په توګه

شعر هغه کلام دی، چې په هغه کې د شاعر احساسات او عواطف د الفاظو په قالب کې په فصيح او سپېڅلي بڼه په ټاکلو اصولو او قواعدو بيان شوي وي.

شعر د انساني طبيعت لومړۍ زمزمه ده. دا زمزمه له هلکتوب څخه شروع کېږي، په زلميتوب کې جوش کوي او په سپين‌ږيرتوب کې پوخوالی مومي، شعر د انساني مينې او جذبې ښکارندوی ده. انساني مينه ډېر ډولونه لري، لکه د مور او پلار مينه، د آزادۍ، قوم، ولس، وطن او ملت سره مينه ده چې دا ټولې مينې د شعر په رنګين بڼ کې را ټوکېږي.(۱)

د پورته لنډو خبرو په رڼا کې، چې کله موږ د استاد صديق الله رښتين شعر او شاعري لولو او په غور سره يې ځيرو، وينو چې استاد د يوه ژمن اديب او شاعر په حيث د خپل وخت او حالاتو له غوښتنې سره سم خپل ديني، ملي او تاريخي رسالت نه دی هېر کړی له وا قعيتونو او حقيقتونو څخه يې سترګې نه دي پټې کړې، بلکې ده په خپلې شاعرۍ کې د خپلو خلکو او هېوادوالو دودونه، رنځونه، غوښتنې، هيلې او ارمانونه په ډېره رنګينه ژبه بيان کړي دي. د ژوندانه او د خپل وخت ناخوالو ته يې په ډېر جرأت د انتقاد ګوته نيولې او ډول ډول ادبي او علمي مطالب يې د شعر په خوږه ژبه وړاندې کړي دي، په ټولنه کې موجودې بدمرغۍ او د هغو لاملونه په ډاګه ښودلي. د ده له آثارو څخه داسې ښکاري چې دی د شعر په اصولو او فنونو پوه، د لوړ خيال لرونکی، نوښتګر او د خلاق فکر خاوند و.

د استاد علمي – فرهنګي ژوند ته په کتو سره ښکاري چې په لومړيو وختونو کې يې شعرونه ويلي، دا هغه وخت و چې د ديني علومو زده کړې د کابل په عربي دارالعلوم کې کولې؛ نو د ځان په هکله داسې ليکي:

په ۱۳۱۵ هـ ش کال کې کله چې کابل ته راغلم، په دې وخت کې د پښتو هنګامه توده وه، زه که څه هم په دې وخت کې متعلم وم؛ مګر بيا هم د پښتو دغه عمومي هنګامې په ما هم اثر وکړ او د پښتو کتابونو مجلو او اخبارونو سره مې مينه پيدا شوه او په يو نيم شعر ويلو مې ګوتې پورې کړې.(۱) ۵مخ



څېړنوال شهزاده توحيدمل

## پوهاند رښتين د پوهنيز او ښوونيز نظام ستوری

پوهاند صديق الله رښتين په (۱۲۹۸ل) کې د ننګرهار د مومندو د سره کمر په غازي اباد کې زېږېدلی دی، پلار يې مولوی تاج محمد نومېده چې په مهتمم صاحب مشهور و. دوی اصلاً د لوګر سليمان خېل دي، استاد رښتين په ماشومتوب کې د پلار تر سيورې محروم شو، خو خپلې زړورې مور پرې زده کړې وکړې او د پښتو ژبې لوی خادم يې کړ. رښتين خپلې زده کړې د هډې په نجم المدارس او د کابل په دارلعلوم کې وکړې. له ماشومتوبه يې له شعر او شاعرۍ سره علاقه وه، چې لومړی شعر يې په (۱۳۱٦ ل) کال د جشن په اصلاح (اخبار) کې نشر شوی دی. شعر او شاعرۍ ترڅنګ استاد رښتين په ليکنو او ژباړو هم پيل وکړ، له اردو او عربي څخه يې



پښتو او دري ته ډېرې ژباړې کړي دي. په (۱۳۱۸ ل) کې د پښتو ټولنې رسمي غړی شو.(۱) په دې سره د استاد رښتين فرهنګي سفر پيلېږي.

استاد رښتين د ليکوالۍ او څېړنې تر څنګ د هېواد د رسينو د کورنۍ مهم غړی و، هغه ډېرې چاپي رسنۍ راپيل او د هغو د مسؤل مدير په توګه يې کار کړی دی. د دغو دندو ترڅنګ په ځينو نورو مهمو دندو هم ګمارل شوی. په (۱۳۲۱ ل) کې د پکتيا د وړانګې جريدې مؤسس او لومړی چلوونکی بيا په (۱۳۲٦ ل) کال ۵مخ

څېړندویه نازو کمال

## په سفرنامه لیکنه کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه

پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال، ژبپوه، ادبپوه او څېړونکی دی چې د پښتو ادب پر څمکه یې رنګارنګ ګلان کرلي دي. نوموړي پښتو ادب ته نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي چې د نورو برخو ترڅنګ یې د ادب په تخلیقي برخه کې هم د پام وړ کار او په بېلابېلو فورمونو کې یې پنځونې کړي دي چې له دې ډلې څخه یې یوه په زړه پورې برخه سفرنامه لیکنه ده چې پوهاند رښتین د پښتو ادب دغه برخه لا ځلولې او په دې برخه کې یې خپل قلم په خورا خوند او رنګ چلولی دی. دلته به تر هر څه لومړی سفر نامه و پېژنو او بیا به د پوهاند صدیق الله رښتین پر لیکل شوو سفرنامو بحث وکړو. ((سفرنامه چې په پښتو ژبه او ادب کې یې (یونلیک) بولو، د نثري ادب یو ځانګړی ډول دی. هغه لیکلی ادبي اثر دی چې سفرکوونکی، ګرځندوی یا سیلاني یې د خپل سفر لیدلي کتلي حالات، خاطرې او سرګذشتونه (ځان پېښې) او د هغو سیمو چې سفر یې ورته کړی، طبیعي، جغرافیایي او تاریخي ځرنګوالی د خلکو د ژوند او دود او دستور، مذهبي عقایدو، دودونو او عنعناتو او داسې نورو په هکله معلومات په کې په ادبي او هنري ژبه لیکلي وي.)) (۴: ۱۰۴ مخ)

پوهاند رښتین ډېرې سفرنامې لیکلې دي، خو زیاتره یې اوس په کتابي بڼه نه پیدا کېږي، ځینې سفرنامې چې په کتابي بڼه موجودې دي او ځینې سفر نامې چې په نورو څېړنیزو اثارو کې یې په اړه په نورو څېړنیزو اثارو کې نومونه او معلومات راغلي دي. دا څېړنیزه مقاله بشپړوم.

**۱ـ د ننګرهار ننداره**

د ننګرهار سفرنامه د پوهاند رښتین لومړنۍ سفرنامه ده، چې په ۱۳۷۴هـ.ش کال کې د یونیورسټي بک ایجنسۍ له خوا په پېښور کې په (۱۰۰مخونو) کې چاپ شوې ده. د سفرنامې په سریزه کې لیکي: "زما لومړۍ سفرنامه د ننګرهار سفر دی چه د ۱۳۲۸ هـ.ش په ژمي کښې په ننګرهار کښې زما د یوې میاشتې د سفر او لیدنو کتنو هنداره ده."

سفرنامه په ډېر ښکلي او هنري نثر لیکل شوې، حالات او منظرې یې په داسې انداز بیان کړي دي لکه لوستونکی چې هره صحنه په خپلو سترګوویني.

نثر یې ساده، هنري او په زړه پورې دی، هره سیمه په زړه راښکونکي انداز انځوروي یو ځای لیکي: ((د تنګي په خوله کښې راباندې د (کونړ) وږمه ولګېده، سترګې مو د (کونړ) د غره په سپینه ځوکه ونښتې چه د سپین غره سره ئې په جګه غاړه سیالي کوله.)) ( ۲: ۴۸ مخ)

په بل ځای کې داسې کاږي : (( د (شونکړۍ) د غره د پاسه د آسمان پېغلې لور له خپل سپین مخ نه پلو لیرې کړ او د نوراني مخ پلوشې ئې به ټوله دنیا ونوستلې... د سپوږمۍ د پلوشو زرین څادر د سیند په مخ غوړېدلی ښکاري او د اوبو په آئینه کښې هم د سپوږمۍ مخ ځلانده بریښي.)) (۲: ۵۹ مخ)

همداسې یې ټوله سفرنامه په خواږه نثر لیکلې ده. دا سفرنامه د جغرافیې او ادبیاتو په برخه کې ډېر ګټور معلومات لري. د ډېرو شاعرانو د قبرونو، مشهورو زیارتونو همدارنګه د ځینو سیمو د خلکو د خوراک، پوښاک او کرنې په اړه هم ډېر څه ځینې تر لاسه کېدای شي. د بېلګې په توګه د بارګام سیمې په اړه لیکي: ((د دې ځای په خلکو کښې بختور سړی هغه دی چه د خامتا شلیدلي کالي ئې په غاړه کښې وي دوئ د ژمي یخني او ساړه د اور او لرګو په برکت تېروي که نه د پوشاک له خوانه خو بې غمه دي. دوئ اکثر په بانډو کې اوسي، او د وزو رمې ساتي غوړي، وزغنې، پوټکی او څنکۍ د دې علاقې پیداوار دي، د کرنې څمکه پکښې لږه ده یوازې جوار، غنم، شولې او پنبه پکښې کېږي.)) (۲: ٦٦ مخ)

ځای ځای د ځینو شاعرانو لکه د حضرت علي خان، محمد ولي خان، توکل بابا، سید کمال، ملنګ جان او نورو یادونه کوي. شعرونه، نیمکۍ، ترانې او نظمونه یې هم راوړي. لکه د ملنګ جان په اړه لیکي: (( ملنګ جان د مشرقي یو نالوستی ملی شاعر دی، د ده چاربیتې او ترانې ټولې له قومي او ملي درد نه ډکې دي.))(۲: ۴۵ مخ)

بیا یې د نظم بېلګه هم راوړې لیکي:

وطن زمونږ د مینې کـــــــور دی
جهان د علـــــم په شان سور دی
هر ځای کښې نښې د هنر ورکوي
وطن زمونږ د مینې کـــــــور دی
(۲: ۴٦ مخ)

همدارنګه د ځینو سیمو په ارتباط لنډۍ هم راوړي. د مثال په ډول د ځوکۍ سیمې په اړه دا لنډۍ لیکي:

هلـــکه روغ به لېـــونی شې
که د ځوکۍ مازدیګرې دې ولیدنه
(۲: ۹۲ مخ)

او د ځینو کلیو یا سیمو د نومونو په اړه په زړه پورې معلومات او لغوي تحلیلونه هم وړاندې کوي. یوه بېلګه یې راوړو چې دی د سروبي د نوم په اړه داسې تحلیل لیکي: ((مونږ په موټر کښې د (سروبي) د نامه په لغوي تحلیل کښې خبرې شروع کړې. ما وویل چه د (سروبي) په اصل کښې (سرې اوبه) دی. زما ملګري وویل چه ښایي اصل یې (سرې اوبه) وي. ما وویل دواړه تحلیلونه صحیح معلومېږي خو د (سرو اوبو) تحلیل ورسره زیات اړخ لګوي ولې چه د سروبی په خوړ کښې (سرې اوبه) بهېږي.))(۲: ۸ مخ)

نو ویلی شو چې یاده سفرنامه د ادب په برخه کې یو ډېر ګټور اثر دی.

**۲ـ د هند سفر**

د هند سفر د پوهاند صدیق الله رښتین تر ټولو مشهور یونلیک دی چې په ۱۳۳۴ لمریز کال کې د پښتو ټولنې له خوا په ۱۷۲ مخونو کې چاپ شوې دی. پوهاند رښتین په همدې سفرنامه کې لیکي: (( د ۱۳۲۹ کال د قوس ۲۰ نېټه وه چه زه د پښتونستان د یو درې کسیز هیئت سره د هند د پښتون جرګې په بلنه له کابل نه د ایران په لار هند ته روان شوم.))( ۳: ۵ مخ)

یعنې دا سفر یې له ۱۳۲۹ کال څخه پیلېږي، کابو درې میاشتې دوام کوي او د همدې کال د حوت میاشتې په ۲۹ نېټه بېرته افغانستان ته راستنېږي. په ټول سفر کې لیدلي کړاوونه په ځانګړې ډول هند ته د تګ پر مهال د الوتکې د نه پیدا کېدلو یادونه کوي. لکه په تهران کې د ټولو هوایي شرکتونو په اړه لیکي: ((مونږ دغو ټولو نمایندګیو ته ورغلو مګر د الوتکې په ټکټ اخیستلو بر نشو...)) (۳: ۱۲ مخ)

بالاخره الوتکه پیدا کوي او هند ته رسېږي چې په اړه یې داسې لیکي: ((قصه زمونږ کوه چه په ۱۸ ورځو کښې له کابل نه بمبئ ته راورسېدو، په لاره مو ډېر تکلیفونه ولیدل، ډېر وځنډېدو، ځای په ځای ټال شوو خو خپل عزم مو پرې نښود، د مقصد لار مو ټینګه کړه او ځان مو بې د پاکستان له لارې څخه هند ته ورساوه.))(۳: ۱۹ مخ)

هرې سیمې یا هېواد ته چې ځي د هغه ځای د حالاتو، آن د جغرافیایي موقعیت په اړه هم ښه معلومات ورکوي. د بېلګې په ډول د ډیلي په اړه لیکي: ((ډیلی په نوي او زوړ ډیلی ویشل شوی دئ په نوي ډیلی کښې د نوي تهذیب او په زوړ کښې د هند د پخواني تهذیب رنګارنګ منظرې لیدل کېږي. نوی ډیلی د ودانۍ، ښکلو ښکلو کوټیو، لویو سړکونو، ارتو او پلنو واټونو په لحاظ د ایشیا یو ښکلی ښار دی.)) (۳: ۸۴ مخ)

د رسمي او نارسمي بلنو، لیدنو او کتنو په اړه هم معلومات وړاندې کوي. د یوې نارسمي یا خصوصي بلنې چې د پښتون جرګې له خوا شوې وه لیکي: (( په دې دعوت کښې پښتون جرګې خپلې چارې او کارونه یو یو بیان کړل او زمونږ زړونه پرې له حد نه زیات خوشحاله شول.))(۳: ۳۴ مخ)

که د هند د ښه طبیعت ستاینه کوي او سمسور وطن یې بولي، نو د هند له تندو او غذاوو څخه شکایت هم کوي. په یاده سفرنامه کې د هند د خلکو د عادتونو او رواجونو په اړه هم کافي مواد او معلومات بیان شوي دي. لکه د دوی د عادتونو په باره کې لیکي: ((په هند کښې هره ورځ لامبل د لویو او وړو عادت دی، او که سړی هره ورځ دوه ګیلنه اوبه په ځان وا نه ړوي، نو ګند ورځنې جوړېږي .... په هند کښې د پان استعمال له سګرټو څخه هم زیات دی.)) (۳: ۱۱٦ مخ)

د دې سفرنامې نثر ساده، روان او خوږ دی چې د ادبي نثر یوه بېلګه یې راوړو: (( د مازدیګر هوا وچلېده، د لمر ککوړی لکه تامبه سور شوی دی، ته به وایې چا د اسمان په تناره کښې د سرې تامبې ټیکلې پورې کړیدی، په همدې پر کیف وخت کې زمزمه کول انساني عادت دی.)) (۳: ۴۸)

دا یونلیک د تاریخي، جغرافیایي او نورو معلوماتو له پلوه ډېر ارزښتمن کتاب دی. په دې سفر کې پوهاند رښتین په الوتکه، اور ګاډي او کښتۍ کې سفرونه کړي دي او خپلې تجربې او مشاهدې یې په ښه ډول کښلې دي.

د پورتنیو سفرنامو سربېره دی نورې سفرنامې هم لري چې په لنډ ډول یې معرفي کوو:

**۳ـ د پښتو تاریخي سیمینار**

دا سفرنامه موږ ته د هغه سیمینار د ورتګ د سفر حالات بیانوي چې په ۱۳۴۴ لمریز کال په پاکستان کې جوړ شوی و. یاد یونلیک په ۱۹۸۷م کال په پېښور کې د یونیورسټي بک ایجنسي له خوا به ۹۲ مخونو کې خپور شوی دی. (۱: ۹۰ مخ)

**۴ـ د قطغن سفرنامه:** د افغانستان د شمالي ولایتونو او سیمو ته د ترسره شوي سفر یونلیک دی، دا هم په ۱۳۳۰ لمریز کال د کابل مجلې په ۱۲ ګڼه کې خپور شوی دی.

**۵ـ د نړۍ د ختیځ کانګرس:** دا سفرنامه د ۱۳۴۲ل کال د کابل مجلې په ۱۱ ګڼه کې خپره شوې ده.( ۴: ۱۱۵ مخ)

**٦ـ د شوروي اتحاد لیدنه:** دا سفرنامه د ۱۳۴۸ لمریز کال د کابل مجلې په ۸ ګڼه کې چاپ شوې ده.

**۷ـ د بدخشان ننداره:** دا سفرنامه د بدخشان ولایت د بېلابېلو سیمو حالات بیانوي او د ۱۳۵۰ لمریز کال د کابل مجلې د ۷ ګڼې په ۲۲ـ۳۲ مخونو کې خپره شوې ده.

**۸ـ د عشق آباد سفر:** دا سفرنامه د ۱۳۵۱ لمریز کال د کابل مجلې په ۷ـ ۸ او ۹ ګڼو کې پرله پسې چاپ شوې ده.

**۹ـ د الماتا سفر:** دا سفرنامه په ۱۳۵٦ هـ.ش کال کې خپره شوې ده، خو دا نه ده معلومه چې په کتابي بڼه چاپ شوې یا په کومه مجله یا اخبار کې. ***۴مخ***

څېړنیاره شفیقه نوري

## استاد رښتین او «پښتو ګرامر»

پوهاند صدیق الله رښتین د خپل فرهنګي ژوند په بهیر کې پښتو ژبې او ادب ته د ژبپوهنې او ادبپوهنې په دواړو برخو کې د پام وړ خدمتونه کړي دي. کتابونه، رسالې او مقالې یې لیکلي؛ غوره علمي طرحې یې وړاندې کړي چې د استاد پر دغو پیرزوینو او رنګینو مرغلرو د پښتو ژبې او ادب علمي زېرمه لا بډایه شوې ده.

استاد رښتین نه یوازې په ادبي برخه کې څېړنې او پنځونې کړي، بلکې د ژبې او ژبپوهنې په ساحه کې یې هم ګټورې او ارزښتمنې لیکنې کړي چې د همدې ژبنیو څېړنو څخه یو هم «پښتو ګرامر» دی، سربېره پر دې یې یو شمېر ژبنۍ مقالې او لیکنې د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې خپرې کړي او په دې برخه کې یې د خپلو علمي ـ څېړنیزو فعالیتونو لمنه لا پراخه کړې ده.

استاد د پیاوړي ژبپوه په توګه زیاتې ژبنۍ څېړنې کړي، په پښتو ټولنه کې د قواعدو د څانګې د مدیریت د چارو سربېره یې د پښتو ټولنې د زده کړې په کورسونو او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې د استاد په حیث ډېر کلونه د پښتو ژبې او ادبیاتو د تدریس په برخه کې زیار ګاللی دی. (۳: ۳۳۸مخ)

استاد رښتین د خپل ژوند په اوږدو کې د ژبې څېړنې او ژبنیو مسایلو ته ډېره پاملرنه کړې او د یوه تکړه ژبپوه په توګه یې ژبني موضوعات څېړلي او مستقل آثار یې پرې کښلي دي چې په ژبنۍ برخه کې پر مقالو سربېره د استاد رښتین دا لاندې آثار یادولی شو.

*پښتو ګرامر*

*د پښتو ژبې لومړی لیارښوونکی*

*پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه*

*پښتو کلي شپږم ټوک*

*ژبښودنه*

*د پښتو مصدرونو لا رښود*

*لرغونې پښتو*

*نوې څېړنه*

پوهاند رښتین د خپل وخت د ګرامر لیکنې د اصولو پر بنسټ داسې ګرامري څېړنې کړې او ژبني آثار یې خپاره کړي چې په پښتو ژبه کې ساری نه لري. د پوهاند رښتین دا ژبني آثار نه یوازې په افغانستان، بلکې د بهرنیو ژبپوهانو لپاره چې د پښتو ژبې ګرامرونه یې لیکلي، د استفادې مستند اسناد دي. (۴: ۴۸مخ)

لنډه دا چې د استاد رښتین ژبنۍ څېړنې پښتو ژبڅېړونکو او ژبپوهانو ته ګټور مواد په واک کې ورکوي چې له نوو څېړونکو او مینه والو سره د ژبپوهنې په برخه کې ګټوره او لازمه مرسته کولی شي چې له دې ژبنیو آثارو او لاسته راوړنو یو هم د استاد رښتین پښتو ګرامر دی.

**پښتو ګرامر**

پښتو ګرامر د پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی اثر دی چې لومړی ټوک یې د جز اول په نامه په ۱۳۲۷لمریز کال د پښتو ټولنې له لوري په ۱۸۴مخونو کې د ۵۰۰ ټوکونو په شمېر په دري ژبه چاپ شوی دی. دویم ټوک یې په ۱۳۵۷لمریز کال لیکل شوی او په ۱۳۷۰ لمریز کال د ښوونې او روزنې د وزارت له خوا په ۲۲۳مخونو کې د ۵۰۰۰ ټوکونو په شمېر د جز دوم په نوم چاپ او خپور شوی دی. د پښتو ګرامر د لومړي او دویم ټوک دري برخې په دري ژبه، څلورمه او پینځمه برخه یې په پښتو ژبه لیکل شوې ده.

اوسنی پښتو ګرامر د استاد رښتین په دري ژبه د لیکل شوي دوه ټوکیز ګرامر پښتو ژباړه ده چې د دوکتور سید محی الدین هاشمي له لوري تر سره شوې او په ۱۳۷۲ لمریز کال په ۴۹۱ مخونو کې د ۱۰۰۰ ټوکونو په شمېر د یونیورسټي بک ایجنسي له لوري په پېښور کې چاپ شوې ده. هېره دې نه وي چې دغه ګرامر ټول دوکتور سید محی الدین هاشمي په خپل لاس لیکلی او د خپرېدو یې جوګه کړی دی.

په پښتو ګرامر کې تر لیکلو وروسته د لیکوال (څو خبرې) په لومړۍ پاڼه کې راغلې چې استاد د همدې ګرامر د دواړو ټوکونو د لیکلو او خپرېدو په اړه پکې څرګندونې کړي او تر څنګ یې د پښتو ژباړن په اړه هم یادونه کړې ده.

استاد لیکلي دي: »د اول ټوک مسوده د پښتو پوهانو د کمېسیون پوهاند عبدالحی حبیبي، ګل پاچا الفت، عبدالروف بېنوا، مولوي شېرګل له خوا له چاپ نه پخوا کتل شوې او منل شوې ده. دغه شان له دویم چاپ نه دمخه په اول ټوک کښې ډېرې سمونې مینځ ته راغلې دي او په پښتو ترجمه کښې هم پوره سمون شوی دی. «( ۱: ۲مخ)

بیا د ژباړن خبرې راغلې او تر هغه وروسته د کتاب اصلي موضوع له څلورم مخ څخه پیل شوې او تر ۴۸۹ مخ پورې غځېدلې ده، د کتاب په دوو وروستیو مخونو کې د استاد رښتین د آثارو فهرست راغلی دی. پښتو ګرامر د استاد رښتین هغه ګرامري اثر دی چې د ***۴مخ***

څېړندویه شکیلا میاخېل

## د پوهاند رښتین ژباړې ته لنډه کتنه

ژباړه د علم د عامېدلو اود فکر د خورېدلو یوه داسې وسېله ده چې علم او پوهه نړیواله کوي فکر او فن دانسانانو تر منځ شریکوي. د تړلیو ذهنونو ته د لا غزېدا او پراخېدا لار هواروي او انسان د نویو فکرونو، علومو، پوهې او د نورو خلکو له تجربو څخه خبروي.

ژباړه په خپله یو فن (Art) یا مهارت (Skill) دی، چې د هغې په مرسته کولای شو معنا ګانې دخپلې محتوا ( Content) یعني پیغامونو (Message) معلوماتو ( Information) او د اړتیا وړ پوهې (Knowledge ) سره د یوې ژبې له شکل او چوکاټ(Form) څخه وباسو او د بلې ژبې د شکل په چوکاټ کې یې راوړو.(۱)

د علامه رشاد په وینا ژباړه د مدنیتونو تر منځ د لېږد رالېږد یوه اغېزناکه وسیله ده چې ملتونه او وګړي په فکري او ذهني لحاظ سره تړي او تر ډېره یې د خپلمنځي احساساتو څخه خبروي او له همدې لارې ځانته د پر مختګ دریڅې پرانیزي، چې په پایله کې خپل کلتور ، ژبه او نور بډایوي د پښتو ادب ځلاند ستوری پوهاند صدیق الله رښتین د خپلې مورنۍ ژبې ترڅنګ په عربي، فارسي او اردو ژبو ډېر ښه پوهیده. د دغو ژبو په ادبیاتو کې پراخه مطالعه درلوده او په دغو ژبو کې مهارت او وړتیا تر دې کچې وه چې له دغو ژبو څخه یې ځینې آثار خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته راژباړلي دي مخکې له دې چې د استاد صدیق الله رښتین د ژباړو په اړه نور څه ولیکم ښه به دا وي چې دژباړې په اړه یو څو ټکۍ درنو لوستونکو سره شریک کړم.

د ژباړې په باب ژبپوهانو بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي چې هر پوه له خپل لید لوري او اند څخه یو پېژندنه وړاندې کړې ده. کېدای شي دا تعریفونه یو له بله توپیر ولري او په فکري لحاظ سره بېل وي ؛ خو بیا هم یوه مشترکه نظریه اوټرون په کې شته چې ویلای شو: په هره ژبه کې یو کلام، یوه بڼه او جوړښت (فورم) او منځپانګه لري چې دغه بڼه اومنځپانګه په پوهونه او راپوهونه کې مرسته کوي. که په لنډ ډول دژباړې تعریف کوو؛ نو وبه وایو : (( ژباړه له یوې ژبې څخه بلې ته دیوه متن دپیام لېږدونه ده)).

استاد شاه علی اکبر شهرستاني ژباړه په دوو برخو (خاصه او عامه) وېشي او داسې یې راپیژنی ژباړه په خاصه معنا؛ له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د یوه مطلب لېږدولو، اړولو او تفسیرولو ته وایي او په عامه معنا د حال، سیرت او اخلاقو بیانولو ته وایي او په مشخصه توګه د انسان د ننني (داخلي) مفاهیم او عواطف بیانوي.(۲)

ژباړه ژبه له علمي او ادبي پلوه بډایه کوي، بډایه ژبې هغه دي چې پر هرې علمي او ادبي موضوع آثار ولري او دا له ژباړو پرته نا شونې ده.

استاد رښتین په خپله هغه ژوند لیک کې چې عبدالروف بینوا د اوسني لیکوال په لومړی ټوک کې (زما ژوند) تر سرلیک لاندې خپور کړی په دې اړه داسې لیکي: ... د اردو او عربي نه به مې ترجمې کولې او شعرونه به مې ویل کوم وخت چې په شعر ویلو مې شروع وکړه ؛ نو د تخلص خیال هم راته پیدا شو او په مروجې فکر مې (رښتین) تخلص غوره کړ. په حقیقت کې دا زما د نامه پښتو ترجمه ده؛ نو ځکه مې دا تخلص خوښ کړ او خلکو په رښتین وپېژندم. هرکله چې زما تعلیم په عربی کې و، نو په عربی کې مې هم پوره لاس درلود . ما ځینې عربی مقالې هم لیکلې دي چې یوه نیمه یې په (اصلاح) او د (کابل مجله) کې هم نشر شوې دي.()

استاد ډېرې ژباړې کړي دي، خو دلته یوازې ځینو مستقیلو اثارو ته نغوته کوو، چې په کتابي بڼه خپاره شوي دي.

**۱- د مینې هنداره:** په دې کتاب کې د پاچا، پلار، ورور، زوی، وطن، ښځې، دین په باب مطالب په لنډون سره په خواږه نثر بیان شوي دي چې له عربي ژبې څخه یې پښتو ته راژباړلي. د مینې هنداره یو عنوان یې دی (وطنه) په دې برخه کې داسې لیکي: »ای ځوانانو ویښ شئ، د غفلت له خوبه پاڅئ، ځانونه تیار کړئ، د خوب کټونه پرېږدئ، سترګې وغړوئ، راحت له ځانه لیرې کړئ ، ملا کلکه وتړئ ، هره ربړه او زحمت په غاړه واخلئ وطن فریاد کوي، چغې سورې وهي، ژړا او زګیروی کوي، که تاسو ور ونه رسېږئ او لاس ورنکړئ او حالت به یې خراب او برباد شي ، خپل خواهشات په دې لار کې پرېږدئ او ځانونه د وطن دودانۍ په لار کې قربان کړئ ، بیا بیا قرباني ورکړئ، له سره تېر شئ، مالونه وښندئ چې وطن مو ژوندی شي او په دنیا کې یو لوی نوم پیدا کړئ «د استاد رښتین دغه ژباړلی نثر د منځپانګې له مخې یوه عاطفي موضوع ده چې له خپل وطن او هېواد سره دانسان د فطري مینې څرګندویي کوي. ځوانانو ته د بیدارۍ درس ورکوي چې دا هر څه تاسو ته سترګې په لار دي، خپل لاس په کار شئ. د استاد ژباړې که وکتل شي، هغوی کوښښ کړی، چې داسې اثارو او لیکنې را وژباړي چې ورته اړتیا وي او هغه ټولنې ته مثبت بدلون ورکړي د پردیو منفي اغېزې خپلې ټولنې ته نه راژباړي.

**۲- شېرشاه سوري:** دا اثر په اردو لیکل شوی چې لومړۍ برخه یې عزیزالرحمن سیفي او دویمه برخه یې استاد رښتین پښتو ته را ژباړلې د نومیالي پښتون واکمن شېرشاه سوري په باب ډېره ارزښتمنه رساله په ډېر خواږه نثر په پوره اماتندارۍ سره ژباړل شوی او د ساده روان نثر ټولې ځانګړنې لري. ***۴مخ***

## د پوهاند رښتین په اړه د ترسره شوو...

**۱۰- "عالم، لیکوال او نوښتگر پوهاند صدیق الله رښتین":** هغه لیکنه ده چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد پوهاند محمد رفیق رفیق د دوکتورا د ډیزرټېشن په توگه کښلې او د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ په ۱۸مه یې ترې دفاع کړې ده[۵].

**تیزسونه**

**۱۱- "د پوهاند رښتین نظریې د هغه د مرکو په هنداره کې":** دا د زکریا ملاتړ د ماسترۍ تیزس دی چې په کابل پوهنتون کې یې ترې دفاع کړې او په ۱۳۸۵ل کال چاپ شوی دی.

**۱۲- د پوهاند رښتین د هنري نثر ژبنۍ ځانگړنې:** دا د ننگرهار پوهنتون د ماسترۍ دورې د محصل پوهنیار عصمت الله میاخېل تیزس دی چې ۱۳/ ۳/ ۱۳۹۵هـ. ش نېټه یې دفاع کړې دی، لا چاپ نه دی.

**۱۳- د پوهاند رښتین سفرنامو ته تحلیلي کتنه:** کابل پوهنتون کې د ادم خان ملاتړ له خوا د ماسترۍ تیزس دی چې ۱۵۱ مخونه لري او په ۱۳۹۵ل کال کې یې دفاع کړې دی.

**۱٤- د صدیق الله رښتین او عبدالله بختاني د ادبي تذکرو تحلیلي او مقایسوي څېړنه:** په ننگرهار پوهنتون کې د ماسترۍ هغه تیزس دی چې د بامیانو پوهنتون استاد پوهنیار فضل الحق خالقیار په ۱۳۹٦ل کال کې لیکلی دی، خو لا چاپ نه دی.

**۱۵- د پوهاند صدیق الله رښتین د ژبنیو آثارو څېړنه:** دا هم د ننگرهار پوهنتون د محصل سید شریف احمد لالاخېل لیکلی د ماسترۍ ناچاپ تیزس دی چې په ۱۴/ ۱۱/ ۱۳۹۸هـ. ش نېټه یې ترې دفاع کړې ده.

**۱٦- پوهاند صدیق الله رښتین لیکوال، ژبپوه، څېړونکی او شاعر:** د کابل پوهنتون کې د محمد یونس باجوړي د ماسترۍ تیزس دی چې په ۱۳۷۰ل کال کې یې په ۱٦۱ مخونو کې لیکلی دی.

**مونوگراف**

**۱۷- د پوهاند صدیق الله رښتین ژوند او ادبي هڅې:** د ننگرهار پوهنتون کې د عبدالاحد سمسور د مونوگراف موضوع ده چې په ۱۳۹۱ل کال کې یې لیکلی دی.

**کنفرانس**

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټیوټ علمي غړي څېړندوی زکریا ملاتړ له خوا «**د پوهاند رښتین ژبنیو څېړنو ته لنډه کتنه**» تر سرلیک لاندې علمي – څېړنیز کنفرانس د ۱۳۹۵هـ. ش کال د چنگاښ د میاشتې په نهمه نېټه وړاندې شو[۶].

**په نورو اثارو کې ضمني یادونه**

**د کابل کالنۍ** په نهمه گڼه کې چې په ۱۳۱۹ل کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې، په کې د قیام الدین خادم «د پښتو نننی لیکوال «په نوم مقاله کې په ۴ مخونو کې د پوهاند صدیق الله رښتین لنډ ژوندلیک خپور شوی دی.

**اوسني لیکوال** (لومړی ټوک) کې چې د عبدالرؤف بېنوا اثر دی او په ۱۳۴۰ل کال کې چاپ شوی، په ۲۰ مخونو کې د پوهاند رښتین ژوند لیک راغلی دی.

**پښتو هنري نثر** چې روسي ختیځپوه گیرس له ۱۳۴۷ل کال دمخه په روسي ژبه لیکلی، سرمحقق معتمد شینواري پښتو کړی او په ۱۳٦۵ل کال کې چاپ شوی، په ۵ مخونو کې د پوهاند رښتین د ژوند پېښو، علمي او ادبي شخصیت او آثارو په اړه ځرگندونې لري.

**د پښتو ادبیاتو** تاریخ (اوسنۍ دوره) اثر کې چې پوهاند ډاکټر زیور الدین زیور لیکلی او په ۱۳٦۰ل کال کې چاپ دی، ۱۲ مخونه یې د استاد رښتین پېژندنې ته ځانگړي شوي دي.

**پښتو ادبیاتو تاریخ** (معاصره دوره) اثر کې چې کاند اکاډمیسین محمد صدیق روهي لیکلی او په ۱۳۷۰ل کال کې چاپ دی، په ۲ مخونو کې پوهاند رښتین په کې په ډېر لنډون سره پېژندل شوی دی[۷].

**په پښتو ادب کې ادبي راپورتاژ** اثر کې د پوهاند رښتین لنډ ژوندلیک د ادبي راپورتاژ د سرلارو لیکوالو په توگه یاد شوی دی.

زه په یقین سره ویلای شم چې پر پورتنیو آثارو سربېره په نورو آثارو کې هم د استاد رښتین یادونه په ضمني ډول راغلې ده چې د هغو ټولو یادول به د دې مقالې لمنه اوږده کړي.

**یادغونډې او سیمینارونه**

د استاد تر وفات کېدو وروسته (د ۱۳۷۷ل کال د لیندۍ ۵مه) د ده لومړنۍ یادغونډه په پېښور کې د افغان فرهنگي ټولنې له خوا شوې ده. دغه راز د ۱۳۷۷ل کال کې د پېښور د ارکایز د غونډو په تالار کې د ده د مړینې د څلوېښتمې یادغونډه شوې وه.

**لومړی تلینغونډه** یې ۱۳۷۸ل او **دوهم تلینغونډه** یې د ۱۳۷۹ل کال کې د پېښور پوهنتون د صاحبزاده عبدالقیوم د غونډو په تالار کې جوړې شوې دي.

**دریېم تلینغونډه** یې د ۱۳۸۰ل کال په پېښور پوهنتون کې د پښتو اکېډمۍ د غونډو په تالار کې ترسره شول. د **څلورم تلین** یې د ۱۳۸۱ل کال د ننگرهار د سرحدونو او قبایلو ریاست د کنفرانسونو تالار کې او **پنځم تلین** یې ۱۳۸۲ل کال د ارواښاد رښتین د کورنۍ او د ولایت د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست له خوا د ننگرهار اولسي مشورتي شورا تالار (کوکب باغ) کې ترسره شوه. د **شپږم، اووم او اتم تلین** یادغونډې یې په ترتیب سره په ۱۳۸۳ل، ۱۳۸۴ل او ۱۳۸۵ل کلونو کې د ننگرهار د اطلاعاتو او فرهنگ د غونډو په تالار کې جوړې شوې دي. **لسم تلین** یې په ۱۳۸۷ل کال کې ترسره شوی دی[۸].

د هغه د **دیارلسم تلین** یاد په جلال اباد کې د یوه ورځیني سیمینار په ترڅ کې د ۱۳۹۰ل کال د مرغومي په ۱۱مه نېټه تازه شو. په دې سیمینار کې د کابل پوهنتون یو شمیر استادانو، د علومو اکاډمۍ غړو او د افغانستان په ختیځ کې مېشتو فرهنگیانو او لیکوالو گډون کړی و. دا سیمینار د ننگرهار پوهنتون او د اطلاعات او فرهنگ ریاست په گډه جوړ کړی و چې ښېلا ښېلو لیکوالو په کې د ارواښاد په ژوند او فن مقالې واورولې[۹].

په ۱۳۹۱ل کال د ننگرهار په هسکه مېنه کې حمزه بابا فرهنگي بنسټ خپله پنځمه اوونیزه غونډه کې د علامه پوهاند رښتین **څوارلسم تلین** ونمانځه.

دغه راز د **پنځلسم تلین** په یاد علمي او څېړنیز سیمینار د ننگرهار د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست له خوا د ۱۳۹۲هـ. ش کال د کب په ۲۷مه، په جلال اباد ښار کې جوړ شو، چې د ننگرهار او لغمان ولایتونو گڼ شمېر فرهنگیانو، لیکوالانو، د پوهنتون استادانو او محصلینو په کې گډون کړی وو. په دې سیمینار کې بېلابېلو پوهانو او لیکوالو د خپلو مقالو او ویناوو په ترڅ کې د پوهاند رښتین پر څو اړخیز شخصیت، ادبي هڅو، ادب او کلتور ته د هغه د خدمتونو او نه هېرېدونکو هلوځلو په اړه رڼا واچوله[۱۰].

همدارنگه د پوهاند صدیق الله رښتین د **اتلسم تلین** یاد غونډه د ننگرهار پوهنتون په نوښت د ۱۳۹۵هـ. ش کال د مرغومي په ۱٤مه جوړه شوه. دغه غونډه چې د پوهنتون د غونډو په تالار کې ترسره شوه، د پوهنتونونو استادانو، فرهنگیانو او محصلینو په کې گډون کړی و. د غونډې ویناوالو، استاد رښتین د پښتو ژبې پیاوړی څېړونکی، ادیبپوه، کره کتونکی او پیاوړی گرامرلیکونکی یاد کړ[۱۱].

دا چې سږکال (۱۳۹۸ل) د استاد رښتین د زوکړې سلمه کالیزه پوره کېږي، نو په همدې مناسبت د علومو اکاډمي د بشري علومو معاونیت د ژبو او ادبیاتو مرکز له خوا **د پوهاند رښتین د زوکړې سلمه کالیزه په نوم علمي- څېړنیز سیمینار** جو شو.

له دغو پورته یادو شویو آثارو پرته چې په بېلا بېلو وختونو کې خپاره شوي او د استاد رښتین د ژوند او علمي- فرهنگي شخصیت په توگه په کې معلومات خپاره شوي، په هېواد کې دننه او همدارنگه په پښتونخوا کې په مجلو، جریدو او ورځپاڼو کې او دغه راز په مختلفو وېبپاڼو کې د هغه د ژوند، علمي او فرهنگي هڅو، آثارو او افکارو په اړه د لیکوالو له خوا هم مقالې خپرې شوي دي.

**پایله**

له پورتنیو ځرگندونو جوته شوه چې د استاد رښتین په اړه ٦ مستقل آثار لیکل شوي او د »سبا ستوري« مجلې ۲ گڼې ورته ځانگړې شوي دي، ۲ د پي ایچ ډي ډیزرټېشنونه، ٦ د ماسترۍ تیزسونه او یو مونوگراف یې په اړه کښل شوي او هم په گڼو آثارو کې یې ضمني یادونه راغلې ده، کابو هر کال یې تلین غونډې جوړې شوي، یو علمي- څېړنیز کنفرانس یې په اړه وړاندې شوی او د زوکړې د سلمې کالیزې په مناسبت یې علمي – تحقیقي کنفرانس ترسره شوی دی.

په پای کې ژمنه کوم چې په راتلونکې کې به د پوهاند رښتین په څېر د پښتو ادب د نورو پیاوړو پوهانو، څېړونکو او استادانو په باب هم د ترسره شوو علمي – تحقیقي سرچینو، غونډو او سیمینارونو جاج هم اخلم. په همدې هیله.

**مأخذونه:**


(۱) شهزاده توحیدمل، د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه، د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۸۸ل کال، ۱۷، ۱۹، ۲۱، ۲۲ مخونه.

(۲) محمد اصف احمدزی، فرهنگي- ادبي پېښلیک، ناچاپ اثر.

(۱۱) د ډاکټر زرغوني زېور رالېږلی یادښت.

(۳) پورتنی اثر.

(۴) مخکینی مأخذ.

(۵) شهزاده توحیدمل، د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه، د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۸۸ل کال، ۱۲، ۱۳، ۱٤، ۱۵ او ۱٦ مخونه.

(٦) د استاد زرغوني زېور رالېږلی یادښت.

(٦) بازمحمد عابد، مشال راډیو، (https://www.mashaalradio.com/a/24439965.html).

(۷)محمد اصف احمدزی، فرهنگي- ادبي پېښلیک، ناچاپ اثر.

(۸) پورتنی اثر.

(۹) مخکینی مأخذ.

(۱۰)محمد اصف احمدزی، فرهنگي- ادبي پېښلیک، ناچاپ اثر.

(۱۱) د ډاکټر زرغوني زېور رالېږلی یادښت.


## په سفرنامه لیکنه کې....

ځینې نورې سفرنامې یې هم په کابل مجله کې خپرې شوې دي. لکه: ( د جنوبي ولایت د ۱۳۳۱ل کال کابل مجلې په ۸ گڼه، د خوست لیدنه د ۱۳۴۴ل کال کابل مجلې په ۵ گڼه، د فراه پېژندنه دا چې چېرې خپره شوې معلومه نه ده او د الینگار او الیشنگ نندارہ چې د ۱۳۵۰ل کال د کابل مجلې په ٦ گڼه کې چاپ شوې ده.)( ۴: ۱۱۴ مخ)

پر دغو سربېره دوې نورې سفرنامې ( د مصر سفر او هېواد ننداري ) هم لري چې چاپ شوې نه دي. نو ویلی شو چې پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو تخلیقي ادب دغه ډول ته بې ساری خدمت کړی دی چې هرکله په پښتو ادب کې د دغه نثري ډول یادونه وشي د پوهاند رښتین نوم به یې په مخکښانو کې کښل کېږي.

**مأخذونه:**


۱- توحیدمل، شهزاده. د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۸۸ل کال.

۲- رښتین، صدیق الله. د ننگرهار نندارہ، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، ۱۳۷۴ل کال.

۳- رښتین، صدیق الله. د هند سفر، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۳۴ل کال.

۴- هاشمي، سید محی الدین. د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي- فرهنگي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، میهن خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵ل کال.


## استاد رښتین او «پښتو گرامر...

گرامر په اړوندو برخو په کې ښه څېړنه شوې، د هرې برخې جزیات په تفصیل سره څېړل شوي دي او تر اوسه هم په ژبنیو څېړنو او گرامر لیکنه کې د پښتو ژبپوهانو او ژبڅېړونکو له لوري د یوه غوره مأخذ په توگه کارول کېږي. څېړنوال شهزاده توحیدمل د پښتو گرامر د ارزښت او اهمیت په اړه داسې نظر لري: د پښتو گرامر ډېره برخه له نن څخه نږدې شپېته کاله وړاندې د عربي ژبې د گرامري قواعدو پر اساس لیکل شوې چې د معاصرې ژبپوهنې له بنسټونو، اصولو او غوښتنو سره پوره سمون نه لري، خو بیا هم په دې گرامري اثر کې داسې ډېر د غنیمت وړ مواد شته چې د گرامر د تدریس او لیکوالو سره په گرامر لیکنه کې لازمه مرسته کولی شي.« (۱: ٦۴مخ)

استاد رښتین د دې اثر موضوعات په ټولیزه توگه په څلورو برخو وېشلي او په هره برخه یې پوره خبرې کړې چې په لاندې ډول یې واضح کولی شو: د لومړۍ برخې تر پیل دمخه استاد د ژبې، د پښتو ژبې د تاریخچې او د گرامرونو د تاریخچې په اړه خبرې کړې او پر دې موضوعگانو یې تفصیلي بحث کړی دی.

د کتاب په لومړۍ برخه کې د غږپوهنې تر سرلیک لاندې دا مسایل څېړل شوي، غږونه، اصلي غږونه، مستعار غږونه، د مخرجونو په اعتبار د توریو ډولونه، کومکي غږونه، خج، کومکي توري، او د کومکي غږونو په اړه یادونې.

د پښتو گرامر په دې برخه کې غږونه پر دوه ډوله وېشل شوي. اصلي غږونه او مستعار غږونه چې وروسته د هر یوه ټاکلې گرافیم هم ښودل شوی دی.

د پښتو گرامر دوهمه برخه د صرف یا مورفولوژي بحث ته ځانگړې شوی او دغه موضوعات په کې راغلي دي: صرف، د کلمې ډولونه، نوم، د مفهوم له مخې د نوم ډولونه، خاص نوم او ډولونه یې، جنس نوم او ډولونه یې، د جمعیت نوم، مجرد نوم، عام نوم،د ظرف نوم، مکاني ظرف، زماني ظرف، مطلق وختونه... د مرکبو صوتونو جوړښت، د حیواناتو د شړلو او غوښتلو صوتونه، د جوړښت له مخې د نوم ډولونه، خاص مرکب نومونه، عام مرکب نومونه، د کیفیت له مخې د نوم ډولونه، ښځینه نوم ډولونه، د شمېر له مخې د نوم ډولونه، د نوم حالتونه، په پښتو کې د پردیو لغاتو قانون، ضمیر او ډولونه یې، صفت او ډولونه یې... د فعلیت او نافعلیت له مخې د نوم ډولونه، د جوړښت او پای له مخې د پښتو مصدرونو ډولونه... د فعل بحث، د مفهوم له مخې د فعل ډولونه، د اشخاصو له مخې د فعل ډولونه، د زماني له مخې د فعل ډولونه، د اشتقاق او جوړښت له مخې د فعل ډولونه، قیدونه او ډولونه یې، ادوات یا توري، مستعار لغات...

د کتاب دریبمه برخه د »پښتو نحو «تر سرلیک لاندې دا ژبنې موضوعگانې رانغاړي: د ناقص کلام قسمونه، انشایه جملې، خبري جملې، د اسمي جملو قاعدې، فعلي جملې، د فعلي جملو جوړښت، د فعل، فاعل او مفعول مطابقت، د فعلي جملو قاعدې، په فعلي جملو کې د ضمیرونو استعمال، د فعل مربوطات او توابع، غبرگې جملې او د جملو سپړنه او بېلونه،

د کتاب وروستۍ برخه بیا د لویې نحو په نامه یو شمېر دا موضوعات راسپړي: فصاحت او بلاغت، د معاني برخه، د مسند الیه حالتونه، د مسند الیه توابع، د مسند حالتونه، د جملو معنوي ځرنگوالی، د جملو لنډوالی او برابروالی، د جملو لفظي ځرنگوالی، د بیان برخه، په جملو کې د افعالو مجازي استعمال.

په پایله کې ویلی شو چې پوهاند رښتین د پښتو ادب هغه ستوری دی چې د ادبپوهنې او ژبپوهنې په دواړو برخو کې یې زیار گاللی، اثار یې لیکلي او په ژبنۍ برخه کې یې د پام وړ او ارزښتمنې لیکنې او څېړنې کړې چې له دې ډلې یو هم د استاد پښتو گرامر دی. استاد رښتین په دې اثر کې د گرامر د ټولو برخو جزیات وړاندې کړي او هره برخه یې په تفصل سره څېړلې ده.

سره له دې چې د پښتو گرامر ځینې برخې په دودیز ډول لیکل شوې، خو ارزښت او اهمیت ته په کتو یې اوس هم په ژبنیو څېړنو کې د ژبڅېړونکو او ژبپوهانو له خوا د یو غوره مأخذ په توگه کارول کېږي او د ژبپوهنې له زده کوونکو او نوو څېړونکو سره په گرامري برخه کې لازمه مرسته کولی شي.

**مأخذونه**


۱- توحیدمل، شهزاده. د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه، علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت، ۱۳۸۸ل.

۲- رښتین، صدیق الله. پښتو گرامر، یونیورسیټي بک ایجنسي،۱۳۷۲ل.

۳- هاشمي، سید محی الدین. د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي ـ فرهنگي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، میهن خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵ل.

۴- هلالي، عبدالحکیم، د پښتو ژبې فونولوجي، علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت، ل۱۳۷۰ل.


## د پوهاند رښتین ژباړو...

**۳- انوک اردن:** دا دیو اروپایي سړي کیسه ده چې استاد رښتین له دري ژبې پښتو ته را ژباړلې ده؛ خو چاپ نه ده .

**۴- د زلمو وظیفې:** دا اثر استاد رښتین له عربي ژبې پښتو ته را ژباړلی دی . دا په واقعیت کې د مقالو یوه ټولگه ده چې وخت په وخت د هېواد په خپرونو کې چاپ شوي دي.

**۵ ـ هی افسوس:** په نوم کیسه یې د لاهور د اردو ژبې مجلې (مست قلندر) څخه پښتو ته راژباړلې او کابل مجله کې خپره شوې ده(۳)

د پوهاند رښتین د ژباړو ژبه ساده، روانه، پخه او خوږه ده دا چې ژباړن په دواړو ژبو باندې په ښې پوهېدنې سربېره دژباړې په فن او مهارت هم پوره پوه او خبر دی؛ نو ځکه یې ژباړه هم پوره، کره او په ادبي معیار برابره ده. پر ژبنې فصاحت او بلاغت علاوه داسې رواني او خوږوالی په کې ترسترگو کېږي چې د ژباړې گومان هم پرې نه کېږي او لوستونکي یا اورېدونکي ته تخلیق ښکاري. داسې انگېري، چې دا خبرې په خپله د استاد دي.

**مأخذونه**


۱ـ هاله، حبیب الله. د ژاړې اصوف، ژباړن: امان الله اماني، خاور خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ل کال، ۳مخ.

۲ـ ناصر، نصرالله. معاصرو پښتو ژباړو ته لنډه کتنه، کابل مجله، ۷مه گڼه، ۱۳۹۴ل کال، ۱۲- ۱۳مخونه.

۳ـ هاشمي، سیدمحي الدین. دپوهاند صدیق الله رښتین دادبي او فرهنگي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، میهن خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۵ل کال. ۱۷۹مخ.


## د پوهاند رښتین د ژباړې...

دوران په هر چا باندې راځي، که یو دوه تنه ستا څخه مسافر شي او نا آشنا ملک ته لاړ شي؛ نو هغوی به هلته؛ لکه د دوو ورونو په شان خواږه او یو بل ته گران وي، ځکه چې دوی دواړه له یوې خاورې او یوې ځمکې څخه پیدا شوي دي او د یو ځای او به یې څښلي دي، یعني ستا په غېږ کې لوی شوي او ستا د سینې شوده یې رودلي دي.)) (۴)

د استاد پورته ژباړه ساده، روانه او اسانه ده ، هېڅ ډول پېچلتیا نه لري چې د ښې ژباړې یوه ځانگړنه یې بللی شو. د یادې ژباړې ژبه سوچه او د ولس محاورې ته نږدې ده او داسې څه نه لري چې لوستونکي یا اورېدونکي ته یې په پوهېدنه کې څه ستونزه پیدا شي.

((گرانه وطنه! ستا د فتح او کامیابۍ زېری ماته د زوی د زېري څخه هم زیات، دا رنگ ستا د نامه لوړوالی او ستا عزت په هر څه زیات بولم، څومره چې ستا نوم په جهان اوچت وي، هغومره به زه تل خوشحاله او مسرور یم. وطنه! له تا څخه بل ښه پلار نشم پیدا کولی او نه له تا څخه زیاته مهربانه مور چېرته شته او نه ستا په شان بل ورور پیدا کېږي، چې سړی پرې ډاډه او بې غمه وي او نه داسې معشوقه لرم، چې ستا نه پرې زیات مین یم او نه مې داسې زوی شته، چې ستا نه راته زیات گران او خوږ وي، ته زما دپاره یو بختور ژوند جوړوې....)) (۵)

په دې بېلگه کې له تشریح او توضیح پرته، پورته ټولې ځانگړنې لیدل کېږي.

په پای کې د استاد رښتین د ژباړو په اړه په لنډ ډول داسې ویلای شو:

ټکې پر ټکې ژباړه سمه او خوږه نه راځي؛ نو ځکه استاد له ټکي پر ټکي ژباړې څخه ځان په کلکه ساتلی دی او مفهومي ژباړه یې ترسره کړې ده.

په ژباړه کې یې هېڅ ډول ابهام او پېچلتیا نه محسوسېږي، تر دې چې سړی د استاد په ژباړه هیڅ د ژباړې فکر نه شي کولای.

د استاد د ژباړو ژبه ډېره پخه او خوږه ده. دا چې ژباړن په دواړو ژبو باندې په ښې پوهېدنې سربېره د ژباړې په فن او مهارت هم پوره پوه او خبر دی؛ نو ځکه یې ژباړه هم پوره، کره او په ادبي معیار برابره ده.

د ژباړې یو مهم اصل لیکوالي ده چې استاد د لیکوالۍ په ټولو اصولو خبر او پوه دی او په خپله دغه ژباړه کې یې د لیکوالۍ ټول اصول په بشپړه معنا مرعات کړي دي.

**مأخذونه:**


۱ـ یاسر پاچا، د عبداللطیف بهاند د ژباړو ارزښت او ځرنگوالی، زېرې جریده(۱۱ـ۱۲مه) گڼه، ۱۳۹۸ل، ۲مخ.

۲ـ هاشمي، سید محی الدین. د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي ـ فرهنگي خدمتونو څېړنه او کره کتنه (د پي ایچ ډي تحقیقي مقاله)، میهن خپرندویه ټولنه: د میهن خپرندوېې ټولنې تخنیکي څانگه، جلال آباد، ۱۳۹۵ل، ۱۷۹مخ.

۳ـ الساعي، ابراهیم زکي. تصویرالعواطف، ژباړن: رښتین، صدیق الله. (د مینې هنداره)، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۳۴ل، ۴۰ مخ.

۴ـ پورتنی اثر، ۴۳مخ.

۵ـ پورتنی اثر، ۴۳مخ.

## د پوهاند صدیق الله رښتین د نثر ...

آشنیلو د ژمي له اوږد خوب نه سترګې وغړولې. دوربڅو له جزیرو نه راغلو ځاځکو ورله مخونه ووینځل.د نمر تودو وړانګو په کې ګرمي او تودوخي واچوله. د اوچتېدو پاڅېدو، پورته کېدو قوت یې ووموند او هرې خواته ددوی د ټوکېدو او زرغونېدو ګونګوسی شو...)) (۵: ۱۲۸ـ۱۲۹مخونه)

وګورئ چې پښتو او پښتونولی ته یې د څومره غښتلتیا سره سره بیا هم د درناوي او منلو زغرې ور اغوستي دي. په دې معنا چې پښتو او پښتانه سره ددومره دبدبې بیا هم د خبرې په ځای کې د درناوي او احترام سر ټیټوي. ښې بېلګې یې جرګې دي.

(( پښتو او پښتونولي په یوه منده له جګو جګو څوکو ، لویو ډاګونو پښتني سیمو راوځغلي د نمونځ او درناوي زغره واغوندي په ډېره دبدبه او هیبت راشي مګر هغلته یوې خواته په ادب ودرېږي.))(۵ : ۱۵۲مخ)

استاد په تاریخي څېړنو کې هم د پام وړ کار کړی دی، خو دلته یوه بېلګه را اخلو چې په هنري نثر یې د (پښتو) کلمې سپړنه او د بېستون په ډبرلیک کې د پښتو تورو پیدا کېدل او پیدا کول په هنري ډول لیکلي دي:

((د پښتو کاروان د پت ، ښېګړې، تورې او وفا په برکت هرچا ته د خپل پرتم لویی او پاکی پلوشې وځلولې .ددې ځلاندو پلوشو تماشې ته ډېرې سترګې په ځیرځیر کتو بوختې وې. نه پوهېږم دچا د سترګو نظر د بېستون په ډبرلیک ولګېده. یوه جټکه یې وخوړه مګر چې سترګې یې په کې خښې کړې نو د پښتو تورو ورته په ډکه خوله وخندل...)) (٦: ۲۷مخ)

د مهال څرګندونه یې د انځرو په نه ټوکېدو کې ښودلې ده.بیا یې (لکه مور چې ماشوم له خوبه راویښوي) د نه ټوکېدو دلیل هم ښودلی دی؛ خو هنریت ته یې سړی حیران پاتې شي:

((شیرشاهي په ډېرو انځرانو مشهوره ده مګر مونږ په داسې وخت کې ولیدله چې انځرو لا په کې سترګې نه وې غړولې او د پسرلي مور له خوبه نه وو پاڅولي .)) (۴: ۲۳مخ)

د سفر پرمهال د طبیعت ښکلا هم په داسې الفاظو وړاندې کوي چې ښکلا یې نوره هم څو واره ډېروي او د سړي په زړه کې وګرځي چې کاشکې ما هم دا ځای لیدلی وی:

((د غره د پاسه د اسمان پېغلې لور له خپل سپین مخ نه پلو لېرې کړ او د نوراني مخ پلوشې یې په ټوله دنیا ونوستلې. زه د سپوږمۍ د مخ په ننداره کې له هر فکر نه ووتم او د حیرت چپو لاهو کړم. په زړه کې ګړۍ په ګړۍ د سپوږمۍ د مخ کرې ته ورنږدې کېږم او خیال کوم چې دا ګوندې د سپوږمۍ د ورتګ سفر دی ... په همدې وخت په موټر کې ناست د یوه ځلمي غږ زما د تصوراتو په پرده کې لار پیدا کړه او دا لنډۍ یې وویله:

سپینې سپوږمۍ له تانه جارشم
زما جانان به درته ډېر کتلي وینه
(۴: ۵۹مخ)

د سیمې د خلکو یو بل ته درناوی یې هم په ښکلي انداز کې وړاندې کړی. د (بې اجازې روږه نه ماتول) اصطلاح یې هم د پوره درناوي ښودلو لپاره رواړې ده: ((د دې ځای خلک د (سپین روبو) ډېر منونکي دي او د دوی بې اجازې روږه هم نه ماتوي. سیند په ټوله دره کې تر دم کلي پورې د لویو هیبتناکو غرونو له وېرې غلی روان دی. نه شر کوي نه شور. نه مځکې وړې نه پټې؛ مګر سره د دې هم په چپه خوله خونړی دی .)) (۴: ٦۷مخ)

په لاندې بېلګه کې د هنریت تر څنګ د مظلومو په حال ژړا هم داسې څرګنده شوې چې د لوستونکو په زړه او مغز هم پوره اغېزه کوي: ((د شپونکي لوڅ لغړ کړاغ سترګي ماشومان اوغریبه رنګ زېلې ښځه دخپلې کوډۍ په سرناسته وه. دوی مونږ ته ترند ترند کتل او مونږ د دوی په حال له سترګو اوښکې تویولې. تور لوغړن شپونکی هم د خپلو بچو په شان بې مترې ولاړ و. زمونږ سره د دې باندې خاوند د بارګام عبدالرحیم هم و. په دې وخت کې زمونږ (غمخور) ملګري له جېبه دوه پنځه ګون راوښکل او شپونکي ته یې ورکړل. ما ورته وویل: پیسې؛ خو ښې او خوږې دي مګر د دې لغړو ماشومانو دپاره خامتا په کار ده او باید په داسې ځایونو کې سړی له ځان سره خامتا وګرځوي. خیر څه به مې پوښتئ. دا شپونکی اووه سره کور لري ...)) (۴: ۷۸ـ۷۹مخونه)

ما د هنري نثر دغه څو بېلګې وړاندې کړې؛ که نه د پوهاند صدیق الله رښتین د نثر د هنریت ښودلو په اړه پوره لوی اثر لیکل کېدای شي. د دغو کتابونو د مطالعې وروسته د ((ښکلا وږمه)) نومې اثر هنریت تر نورو راته ډېر لوړ ښکاري؛ خو د نورو کتابونو نثر هم ځانګړې ښکلا او هنریت لري. په متن کې سیمه ښه انځوروي، ښکلا ته نوره ښکلا ورکوي، هر څه ته دلایل پیدا کوي، د غیرت او پښتو لپاره وصیت کوي او نور ډېر پیغامونه لري.

د دې لنډې لیکنې په پای کې ویلای شم چې د پوهاند رښتین نثر پوخ، معیاري او خوږ دی. غښتلې او کره ژبنۍ ځانګړنې لري. جملې یې لنډې، پرېکړې، رواني او د ژبې د اصلي غونډلیز(ترړنګ) یا (نحوي ترکیب) سره سمې دي. محاورې، متلونه او اصطلاحات (نومونې) یې مالګه ده. د تخیل تومنه په کې غښتلې ده.د انځورونې، ترسیم او د احساس او پارونې وړتیا لري. د عربي ژبې ویپونه په کې ښکاري. د ویونو ټاکنې او په خپل ځای راوړنې ته په کې پاملرنه شوې ده او په جملو کې د فعل برخې ته بدلون ورکوي. بې ساه شیزونه په حرکت راوستل یې لوی کمال دی. د صحنې په انځورولو کې یې لوی لاس درلود. په متن کې ښه انځور وړاندې کوي، ښکلا ته نوره ښکلا ورکوي، هر څه ته دلایل پیدا کوي، د غیرت او پښتو لپاره وصیت کوي او نور ډېر پیغامونه لري.

**مأخذونه**


انځور، زرین. ((ارښاد استاد رښتین او پشتو ادبي نثر))، لېمه مجله، ۱۰مه ګڼه، کابل. ۱۳۷۷ل کال.
پروېز، اطهر. ادبڅېړنه (د عاقله سادات ژباړه).میهن څېړندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۹۳ل.
د استاد پوهاند رښتین یاد (د مقالو ټولګه)، دانش کتابتون: پېښور، ۲۰۰۰م.
رښتین. پوهاند صدیق الله. د ننګرهار ننداره، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۱۳۷۴ل.
رښتین. پوهاندصدیق الله.د ښکلا وږمه،ډایرکټر پښتو اکیډمي: لاهور، ملت پرنټرز، ۱۹۹۷ م.
رښتین، پوهاند صدیق الله. د ژوند پلوشې، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۱۳۷۴ل.
روهي،سرمحقق. د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴ل.
زېور، ډاکټر زېورالدین. د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز: پېښور، ۱۳۸۷ل.
ملاتړ، ذکریا. د پوهاندرښتین نظریې(د مرکو په هینداره کې)، د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه: کابل، ۱۳۹۴ل.
هاشمي، سید محی الدین. د نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۹ ل.


## پوهاند رښتین د شاعر په توګه...

استاد د خپل لومړي چاپ شوي شعر په اړه داسې لیکلي دي: زما لومړی شعر په ۱۳۱٦ هـ ش کال کې د جشن په اصلاح »اخبار «کې نشر شو، وروسته تر دې زما علاقه او مینه ورځ په ورځ زیاتېده او کله نا کله به مې د خپل زړه په غوښتنه یو نیم شعر وایه، په ځینو مشاعرو کې به مې برخه اخیستله؛ خو زیاته توجه مې د نثر خوا ته اړولې وه، ولې چې د پښتو لمن د نثر له مرغلرو څخه خالي وه او د نظم او شعر پانګه په کې له پخوا زیاته وه، بیا هم چې ما د خپلې ځوانۍ په شلو دېرشو کالو کې کوم شعرونه ویلي دي، هغه په مجلو او اخبارونو کې نشر شوي دي.(۳)

استاد خپل خواره واره شعرونه چې لا له مخکې څخه په مطبوعاتو کې چاپ شوي او ځینو ته یې لا د چاپ موقع نه وه برابره شوې، په یوې ټولګه کې په ۱۳۷۱ - ۱۳۷۲ هـ ش کلونو کې د »خوږې وږمې «په نوم په پېښور کې چاپ کړل.

استاد د خوږې وږمې په سریزه کې چې د »ړومبی خبرې« تر سرلیک لاندې راغلې په یو ځای کې داسې لیکي: ما چې د خپلې ځوانۍ په شلو دېرشو کلونو کې کوم شعرونه ویلي دي، هغه په مجلو او اخبارونو کې نشر شوي دي، د ۱۳۵۲ هـ ش کال را وروسته چې زه له رسمي ماموریت څخه وزګار شوم؛ نو د خپلو آثارو په پوره کولو او را ټولولو مې لاس پورې کړ.

په تېرو اتو کلونو کې د شلو کتابونو په لیکلو او را ټولولو بریالی شوم، په دغه لړ کې مې دا دی په ۱۳٦۱ هـ ش کال کې د خپلو اشعارو په را غونډولو برۍ ووموند او دغه شعري پانګه مې د یوه کتابګي په شکل را غونډه کړه، دا وړوکی منظوم اثر »خوږه وږمه« نومېږي، زه دا »خوږه وږمه «هغو ځوانانو او پېغلو ته وړاندې کوم چې د پوهې او علم په څنګ کې یې خپل پښتني پت او غیرت هم ټینګ ساتلی وي. (۴)

د یادونې وړ ده چې استاد په دې سریزه کې د دې شعري ټولګې نوم »خوږه وږمه «یاد کړی؛ خو د ټولګې پر پښتۍ هغه »خوږې وږمې «راغلی دی.

«خوږې وږمې «شعري ټولګه په پېښور کې د تاج محل کمپنۍ، خپرندویې اداري له خوا په اخباري کاغذ په »۱۱۱ «مخونو کې چاپ شوې ده. د شعرونو لیکلړ (فهرست) وروسته په پنځو مخونو کې د استاد د زوی فضل الله رښتین د یو څو خبرې، تر سرلیک لاندې لیکنه هم راغلې ده.

په دې ټولګه کې د استاد (۸۱) پارچې، شعرونه او غزلې راغلې دي. استاد صدیق الله رښتین که له یوې خوا په شعر کې بدیعي ښکلاوې هم له پامه نه دي غورځولې؛ نو له بلې خوا یې محتوا او منځپانګې ته بیا تر هغه هم ډېره پاملرنه کړې ده.

د استاد اشعارو ته په کتو سره ویلی شو، چې د خپلو خلکو د هیلو، ارمانونو، غوښتنو ممثل دی، د خپل ولس په دردونو دردېدلی او په رنځونو او ناخوالو یې کړېدلی او په نوي طرز د قوم مړ احساس راویښوي او هغوی دې ته هڅوي چې د وطن خدمت وکړي، ملي یو والي ته یې را بولي، تر څو خپل ځان، دوست او دښمن وپېژني او د هغوی له تورو مخونو څخه پرده پورته کړي او تور مخونه یې ټولو ته ښکاره او څرګند کړي. راځئ چې په دې لاندې بېلګو کې یې دغه معنوي ادبي او هنري ارزښتونه وګورو:

څو به مور ویده یو دهاتیانو په غوږونو کې
هیڅ به نه وینبېږو په دا هسې رنګ شورونو کې
څو پېړۍ د مخه له مونږ تللي کاروانونه دي
ډک پرې پړاوونه دي

مونږه لا پراته یو د پکټونو پالنګونو کې
خان کاکا مو غرق وي تر غرمې لا په خوبونو کښې
یو کلی مو لاس کښې وي ملک ملک به بولو ځان
ځانته به هم وایو خان
(۵)

دویمه بېلګه:

د قوم خدمت کې به خپل سرومال قربان کړمه
که زه پښتون وم
ښکلي ګلزار به په کوشش افغانستان کړم
که زه پښتون وم
(٦)

وینو چې د یوه بادرده او خوږمن شاعر په حیث پر خپل ولس باندې غږ کوي چې یو موټی شئ، د وطن خدمت وکړئ:

نر پښتون شه، مفتون، کړه خدمت د وطن
وظیفه کړه د ځان صداقت د وطن
ښه خدمت کړه مدام د خپل ملک او قام
ساته تل ننګ، ناموس او عزت د وطن
(۷)

په پای کې ویلی شو چې استاد شعرونه کم خو ډېر خواږه دي؛ د شعر او نظم په ښکلیو فورمونو کې د ټولنیز ژوند، ملي غوښتنې، ملي یووالي، ژورې اندېښنې، رښتیني مینه، د افغان ولس دردونه او ټولنیزې ناخوالې په ډېره خوږه سلیسه، روانه او ادبي رنګینه ژبه نورو ته وړاندې کړې دي.

استاد د شعر په ټولو فنونو، صنایعو او نورو لوازماتو ښه پوهېده، اشعار یې د وزن، آهنګ او ادبي فنونو له مخې پوره، کره او د ادبي هنري ښېګڼو څخه برخمن دي. د استاد رښتین د شعر او شاعرۍ په باب د بحث او څرګندونو وروسته، د هغوی په دې شعري بېلګه خپله لیکنه رانغاړم:

پښتونه پاڅه توره تر ملا کړه
د پلار غیرت نن ځان کې پیدا کړه
حیرانه ځان ته، ټوله دنیا کړه
خوره دنیا کې، خپله رڼا کړه
دا زنګ وهلې توره صفا کړه
د پښتنوالي بیرغ بالا کړه
له پلرو پاتې میراث و تاته
غیرت همت دی اوس یې نو ساته
(۸)

**مأخذونه**


۱- رښتین، صدیق الله. »خوږې وږمې «شعري ټولګه، ړومبی خبرې، تاج کمپنۍ، پېښور.
۲- هاشمي، سید محی الدین. د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي – فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره-کتنه، پښتو ځانګه، پېښور – پوهنتون، ۱۳۹۵ ل کال ۱۹۴ مخ.
۳ـ پورتنی اثر، هماغه مخ.
۴- رښتین، صدیق الله. »خوږې وږمې «شعري ټولګه: تاج کمپنۍ، پېښور، ۲ مخ.
۵ـ پورتنی اثر، ۸۵مخ.
٦ـ پورتنی اثر، ۳مخ.
۷ـ پورتنی اثر، ۱۳مخ
۸ـ پورتنی اثر، ۴۲مخ.


## پوهاند رښتین د پوهنیز او ښوونیز ...

د فراه د سیستان جریدې مؤسس او خپروونکی شو، لـه ( ۱۳۲۵ ـ ۱۳۵۲) کال پورې د کابل پوهنتون استاد، پـه ( ۱۳۳۵) کال د پوهنې سلاکار، په (۱۳۳۷) کـال د پـښتو ټولنې لـوی مـدیر، پـه (۱۳۴۰) کـال کـې یـې د پوهانـد علمي رتبه واخیسته. او په (۱۳۴۲ ل) کـال دویـم ځـل د پښتو ټولنې رئیس شو (۲).

د پورتنیو دندو ترڅنګ یې د کابل راډیو د بېلابېلو برخو مشري هم کړې، استاد رښتین له (۱۳۲۹ ـ ۱۳۵۱ ل) کال پورې له هېواده بهر په بېلابېلو هېوادونو او د ننه په هېواد کې د علمي غونډو، سیمینارونو او ورکشاپونو ګډونوال، برخه وال او ویناوال وو. د استاد د پنځلسو علمي اثارو په ګډون سلو په شاوخوا اثار او تر (۱۰۰۰) زیاتې مقالې لري، چې زیاترو یې جایزې یې ګټلې دي، ( ۴۱) کاله یې فرهنګي فعالیت کړی او په (۱۳۷۷ ل) کال وفات شوی دی. (۳)

د استاد رښتین د ادبپوهنې او ژبپوهنې په برخه کې ډېر عالي اثار لري، هغه وخت چې استاد د ژبپوهنې په برخه کې کار کول، تر ډېره د پښتو ژبې د ژبپوهنې برخه نیمګړې وه، استاد د عربي ژبې په قواعدو او اصولو ښه پوهېده، د همدغې پوهې په رڼا کې د پښتو ژبې په برخه کې ډېر مفید او جامع کتابونه ولیکل، چې تر ننه پورې له لومړنیو او معتمدو سرچینو څخه ګڼل کېږي. په لنډ ډول به یې لاندې پښتو ګرامري اثار د څېړنپوه مولاجان تڼیوال د ((پښتو ژبه او ژبپوهنه)) اثر څخه په استفادې تاسو ته در وپېژنم.

۱ـ پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه: د پوهاند رښتین دغه کتاب، لومړی ځل پښتو ټولنې په ۱۳۲٦ ل کال چاپ کړی او دوهم ځل په ۱۳۸۳ ل کال کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور کې چاپ کړی، دا کتاب ۱۴۱ مخونه لري او په مختلفو موضوعاتو، لکه: د کلماتو ډولونه، اشتقاق او ترکیب، مصدري لاحقې، مرکب او نور په کې څېړل شوي دي.

۲ـ لومړی لیار ښوونکی: یاد اثر پوهاند رښتین په (۱۳۲٦ ل) کال کې لیکلی او پښتو ټولنې د کابل په مطبعه کې چاپ کړی او ګرامري قواعد په درسي بڼه بیان کړي دي.

۳ـ پښتو ګرامر لومړی جز: دا اثر صدیق الله رښتین په ( ۱۳۲۷ ل) د کال کې لیکلی او په عمومي مطبعه کې ( ۱۸۴) مخیز چاپ او په ژبه او ګرامر غږېدلی دی.

۵ـ ژبښودنه: دا کتاب هم صدیق الله رښتین په (۱۳۴۱) کال کې لیکلی، چې د مطبوعاتو ریاست له خوا په ( ۱۳۴۲ ل) کال کې دولتي مطبعې چاپ کړی دی. کتاب (۱۲۰) مخونه لري، په پښتو الفبې، کومکي غړونو، کومکي تورو، د کلمې په ډولونو، د نوم په ډولونو، د نوم په حالتونو، صفتونو، قیدونو او نورو عناصرو یې خبرې کړې دي. په دویمه برخه کې په لیکدود، په درېیمه برخه کې لیکښود او په پای کې ترجمو او نورو موضوعاتو رڼا اچول شوې ده.

۲ـ د پښتو ګرامر: دا ګرامر پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی او سیدمحی الدین هاشمي په پښتو اړولی دی، د مخونو شمېر یې (۴۹۱) ته رسېږي، په دې اثر کې پښتو ګرامر ډېرې موضوعګانې په روانه ژبه بیان شوې دي او په ۱۳۷۲ل کال کې د پېښور د یونیورسټي بک ایجنسي له خوا چاپ شوی دی. (۴)

په پورته توګه مو د استاد رښتین ځینې ژبپوهنیز اثار دروپېژندل، خو د مقالې له محتوا سره برابر غواړم د استاد رښتین د ښوونیزو کتابونو نوملړ وړاندې کړم. په دې برخه کې ((د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه)) اثر د پوهاند رښتین پوهنیز او ښوونیز اثار په لنډیز ډول داسې راپېژني:

**الف ـ د لوړو زده کړو وزارت د پوهنتونونو د تدریس لپاره:**

۱) پښتو ګرامر ۱جز، (۲) د پښتو ادبیاتو تاریخ (څلورم ټولګي لپاره)، (۳) پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه،
۴) پښتو ژبښودونه ۵) د پښتو مصدرونو لارښود، ٦) د پښتو اشعارو ډولونه، ۷) د پښتو عروض، ۸) د پښتو او سانسګریت نږدیوالی، ۹) لرغونې پښتو.

**ب ـ د پوهنتونونو لپاره مرستیال درسي لیکلي او تدوین کړي کتابونه:**

۱) پښتو ادبیاتو تاریخ، ۲) پښتانه شعراء دویم ټوک، ۳) د عبدالحمید مومند دیوان، ۴) د خوشحال خان بازنامه، ۵) د خوشحال خان طب نامه، ٦) د هند سفر، ۷) د ژوند سندره، ۸) ننني لیکوال، ۹) د جلال الدین تذکره، ۱۰) د پښتو ادبي کورنی، ۱۱) تاریخچه ادب پښتو، ۱۲) د پښتو قلمي نسخې، ۱۳) د پښتو قلمي نسخو د څېړنې لارښود، ۱۴) پښتني لارښود، ۱۵) پښتو پېژندنه، ۱٦) د پښتو ادبیات، ۱۷) پښتو نثر، ۱۸) روښان ستوري، ۱۹) د علي خان پېژندنه، ۲۰) تاریخي سیمینارونه، ۲۱) د پښتو نثر هنداره، ۲۲) نومیالي شاعران، ۲۳) پیاوړي شاعران، ۲۴) د ژوند پلوشې، ۲۵) د ښکلا وږمې.

**ج ـ د پښتو ټولنې د تدریساتو د کورسونو لپاره:**

۱) د پښتو ژبې د کورسونو لومړنۍ لیار ښوونکی، ۲) د پښتو ژبې د کورسونو د شپږم سمستر پښتو کلي.

د ـ د پوهنې وزارت د درسي نصاب لپاره یې لاندې کتابونه لیکلي دي:

۱) د دوهم ټولګي پښتو قرائت، ۲) د دریم ټولګي پښتو قرائت، ۳) د دولسم ټولګي پښتو قرائت، ۵) د شپږم ټولګي دینیات، ٦) د پنځم ټولګي دینیات.(۵)

په پورته څلورو برخو کې ما هغه پوهنیز او ښوونیز اثار دروپېژندل چې ما ته په خپله لنډه مطالعه لاسته راغلل، زه د پوهاند رښتین نه سترې کېدونکې هڅې او د ده د څېړنو پر مهال په پښتو ژبه او ادبیاتو برخه کې زیات څه نه موندل کېدل، خو د خپلې مورنۍ ژبې او د اسلامي علومو کې د لوړې کچې لاس لرل، د دې سبب شول چې خپل لیاقت، اخلاص هڅه او د خدمت ښه نیت سره د هېوادنۍ، ژبنۍ مینې او هېوادوالو ته د غوره تدریسي، نسبتاً معیاري اثارو په ورکولو سره لوی خدمت وکړي؛ نو زه پوهاند صدیق الله رښتین د افغانستان د همهالو څېړونکو، پوهانو د پښتو ټولنې مشرانو او د پوهنتون په استادانو کې ستر، وتلی، مخکښ نوموتی د پوهنیز او ښوونیز نظام ځلانده ستوری بولم، ستوری و او په راتلونکې کې یې د لا نورو ستایلو او پرې ویلو او څېړلو حقدار دی.

**پایله**

د پایلې په توګه وایم چې پوهاند رښتین هغه ستر لیکوال دی چې د سلو په شاخوا کې اثار او د زرو په شاوخوا کې مقالې کښلې، د پوهنې، لوړو زده کړو، د پښتو د کورسونو او پښتو ټولنې لپاره یې ډېرې ارزښتمند اثار لیکلي، په راډیو کې د بېلابېلو ادبي پروګرامونو مشري کړې، په بهرنیو او کورنیو علمي غونډو کې ګډون کړی، مقالې یې لوستي او غوره ویناوې کړې دي.

د وړانګې او سیستان جریدو مؤسس او لومړی چلوونکی و. (۴۱) اثارو یې نړیوالې او هېوادنۍ جایزې ګټلې دي او په زرګونو محصلین یې روزلي چې زه یې د پوهنیز او ښوونیز تعلیمی نصاب د برخې ستر ستوری ګڼم او ستوری دی.

**مأخذونه**


۱ـ زېور، زېور الدین. د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز: پېښور ۱۳۸۵ ل، ۲۰ مخ
۲ـ هېوادمل، زلمی. استاد رښتین دخپلو اثارو په هنداره کې، د استاد رښتین یاد، د مقالو ټولګه، د فضل الله رښتین په زیار: پېښور، ۲۰۰۰ م کال، ۲۴۰ مخ.
۳ـ توحیدمل، شهزاده. د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، شعیب مطبعه: کابل، ۱۳۸۸ ل، ۴۴ مخ.
۷ـ تڼیوال، مولا جان. پښتو ژبه او ټولنه، د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، شمشاد مطبعه: کابل ـ افغانستان، ۱۳۹۷ ل، ۲۱، ۳۱ مخونه.
۵ـ توحیدمل، شهزاده. پورتنی اثر، ۹۴ مخ.

# زېرې

علمي، څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده
د تاسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۳۹۸ ل.کال کب میاشت | ۲۳- ۲۴مه گڼه | پرله پسې ۳۴۳- ۳۴۴مه گڼه

د کتونکې ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدیر: څېړنیار احسان الحق
مهتمم: څېړنیار یاسرپاچا
ډیزاین: ا.ک
د یوې گڼې بیه: پنځه افغانۍ

د اړیکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸٦۰۳۳
برېښنالیک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار کابل—افغانستان

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارگان

• په زېرې جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په خپله د لیکوالو په غاړه دی.




عطاء الله فقیري

## د پوهاند رښتین د خورو ورو لیکنو راټولونه

### (د استاد رښتین د «درې ټوکیز» اثر پېژندنه)

د هېواد د وتلي لیکوال، شاعر او څېړونکي پوهاند صدیق الله رښتین خورې ورې لیکنې چې په کابل مجلې، زیري جریدې او نورو خپرونو کې خپرې شوې وې، اوس د پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون په زیار په درې ټوکونو کې راټولې او په کتابي بڼه چاپ شوې، دغه درې ټوکیز کتاب د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د اروابناد پوهاند صدیق الله رښتین د سلمې زوکړې کالیزې د علمي-څېړنیز سیمینار په ویاړ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست په همکارۍ چاپ شوي دي. د رښتین صیب دغه خورې ورې لیکنې؛ د ستورو چینې ( لومړی ټوک )، رښتینی هڅې (دویم ټوک) او رښتنې هڅې (دریېم ټوک) نومول شوي دي چې دلته به هر ټوک په لنډه توگه تاسو در وپېژنو.

د ستورو چینې ( لومړی ټوک) دا برخه د پوهاند صدیق الله رښتین د هنري نثرونو ټولگه ده، چې په کې یونلیکونه؛ لکه د ننگرهار ننداره، د هند سفر، پښتو تاریخي سیمینار، خورې ورې سفرنامې او سفري یادښتونه. همدارنگه هنري نثرونه او ټوټې؛ لکه د ژوند پلوشې، د تاریخ وړمې، د ژوند وړمې، د ښکلا وړمه، خورې ورې ټوټې او هنري ژباړې په کې راغلي دي. د دې ځینې برخې پخوا هم په کتابي بڼه چاپ شوي وو، خو اوس یې موندل گران کار و.

رښتینې هڅې دویم ټوک: دا د پوهاند رښتین د نومیالیو د پېژندنې، متونو، هنري او ادبي شننو ټولگه ده، چې په کې د هېواد او نړۍ د نومیالیو شاخصیتونو، پېژندنې؛ لکه سید جمال الدین افغان او د قضا او د قدر عقیده، د علي خان شاعري او پېژندنه، ابن خلدون فلسفه،چو یو آن او... په دویمه برخه کې یې ادبي شننې دي. دابرخه د ابدیاتو په بېلابېلو برخو ورته څېرمو پوهو باندې د استاد شننې دي؛ لکه موسیقي، سینما او مطبوعات، شعري سرقې... راغلي دي.

رښتینې هڅې دریېم ټوک : دا ټوک هم په دوو برخو ویشل شوی دی لکه لومړ برخه : د خطي نسخو کتابتونو او کتابونو پیژندنه، شننه او کره کتنې موضوعات دي؛ لکه د قلمي نسخو د څېړنې لیاري، د نسخو را ټولول او ترتیبول، د نسخو ترتیب، د نسخو اختلاف ، په متن کې تصرف، د هند په کتابخانو کې د پښتو قلمي نسخې، د هند په کتابخانو کې د فارسي قلمي نسخې، د پښتو قلمي نسخې .... دویمه برخه کې تاریخي شننې، ژبنۍ شننې، ریښه پیژندنه (ایتمولوژي)، ټولنیزې او ژورنالیستیکي لیکنې تر بحث لاندې نیول شوي دي، په ټوله کې په یادو ټوکونو ډېر زیات موضوعات ځای شوي دي. د استاد ازمون کار په دې برخه کې ډېر د ستایلو دی، چې د هېواد د وتلي لیکوال او ژبپوه دا خورې ورې لیکنې یې راټولې کړي او هم د افغانستان د علومو اکاډمۍ د قدر او منني وړ ده، چې دغه اثار یې د چاپ په گاڼه سمبال او د استاد لوستونکو ته ور ورسول. موږ خو په لنډه توگه ځینو موضوعاتو ته اشاره وکړه. تاسو ټول یې لوستو ته رابولم.



څېړنیار یاسر پاچا

## د پوهاند صدیق الله رښتین د ژباړې ځانگړنې

مخکې له دې چې د استاد صدیق الله رښتین د نثري ژباړو په ځینو عامو ځانگړنو او خصوصیاتو بحث وکړو، لازمه بولم چې لومړی د ژباړې په پېژندنه او ارزښت لنډې څرگندونې وکړو.

**ژباړه څه ته وايي:** ژباړه په لغت کې د یوې ژبې په بلې ژبې اړولو ته ویل کېږي او په اصطلاح کې ژباړه دغه مهارت دی چې د هغې په مرسته کولای شو د اړتیا وړ منځپانگه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته انتقال کړو.(۱)

ژباړه د ژبو او فرهنگونو په بډاینه کې ستره ونډه لري، د علومو، تجاربو او افکارو د نړیوال کېدو اصلي وسیله هم ژباړه بلل کېدای شي، د ژباړې تر ټولو ستر ارزښت هم دا دی چې د علومو او فنونو په نړیوالتوب کې رغنده رول لري. که ژباړه نه وای؛ نو د نورو ولسونو او ملتونو له پوهې مو گټنه نه شوه کولای.

**د پوهاند صدیق الله رښتین د نثري ژباړو ځانگړنې:**

استاد صدیق الله رښتین په ژباړه کې د پیاوړي استعداد خاوند دی. استاد په عربي، فارسي او اردو ژبو ښه پوهېده، د دغو ژبو او ادبیاتو پراخه مطالعه یې هم درلوده. نه یوازې دا چې له دغو ژبو یې پښتو ته په خلاص مټ ژباړې کولای شوې؛ بلکې په عربي او فارسي ژبو یې لیکنې هم کړي دي، چې هغه د مقالو او ځانگړو آثارو په توگه چاپ شوي دي. سربېره پر دې چې له پورتنیو درېوو ژبو څخه د استاد ځینې ژباړې د مقالو په بڼه په ځینو خپرونو؛ لکه ( اصلاح، هېواد او ... ) خوندي دي، ځانگړي ادبي او ټولنیز آثار یې هم ورڅخه ژباړلي چې ځینې یې د کتاب په بڼه هم چاپ شوي دي.(۲)

د ژباړو په لړ کې استاد له عربي ژبې څخه د ابراهیم زکي الساعي د ادبي نثرونو ټولگه «تصویرالعواطف« «د مینې هنداره «په نوم او د » اداب الفتا «اثر یې د «زلمو وظیفې«په نوم پښتو ته ژباړلی دی. «د مینې هنداره «یې د کتاب په بڼه په ۱۳۳۴لمریز/ ۱۹۵۵م کال په (۴٦) مخونو کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده. اوس به په لنډ ډول د استاد رښتین د ادبي نثرونو د ژباړلې ټولگې«د مینې هنداره«څخه ځینې بېلگې د نمونې په ډول راوړم چې په ځینو عامو ځانگړونو به یې هم وغږېږو:

**«وطنــه!»**

خوږه وطنه! ستا نوم چې په خوله اخلم، نو په زړه کښې مې داسې محبت چپې وهي، چې په عمر مې نه وې لیدلې او نه ورسره عادت وم. ستا د نوم سره داسې عشق لرم، چې هغه عشق د دنیا په بل موجود کې نشته، دا محبت او دا عشق د هغې پاکې عاطفې څخه پیدا کېږي، چې هغه د ټولو بیان شوو عاطفو څخه بل شان ده، که د زړه مثال لکه د یو لوښي شي او د پلار، مور، ورور، معشوقې خوی، ماینې عاطفه او مینه په کې لکه اوبه واچولی شي او که د دغو ټولو مینو سره زه یوازې د وطن مینه او محبت په تله کښې واچوم دا به پر ټولو زیاته شي او په یوازې ځان به د زړه لوښی ډک کاندي. زه په خپل خیال او زړه کښې دا مینه پر ټولو مینو زیاته بولم، نو ځکه زما سترگې بله مینه او عاطفه نهویني او نه مې حواس د بلې عاطفې ادراک کولی شي، لنډه دا چې وطن راته له هر څه خوږ او له هر څه قدرمن او زیات دی.

گرانه وطنه! پلار که څه هم په ما باندې د پالنې او روزنې حقونه لري او زه یې د حقونو پوروړی یم، مگر ستا حقونه په ما او پر هغه یو رنگ دي، ځکه مونږ دواړه یو شان ستا په غېږ کښې لوی شوي یو او ستا په روزۍ پایو. که څه هم په ښکاره زما نسبت پلار ته کیږي، لاکن په حقیقت کښې زه تاته منسوب یم. زه ځان بختور بولم، چې په کور او په بهر مې تاته نسبت کیږي او ستا په نامه یادېږم، ته زما داسې پلار او مور یې چې تر څو زه ژوندی یم ستا له حق او پوره به خلاص نشم او څو پورې مې چې په دنیا کښې د خوږو ښبو نصیب وي ته مې په پالنه او روزنه پړ یې.

خوږه وطنه! که مور مې زما سره مینه کوي او په ما مهربانه وي، نو د دې دا مینه هم ستا له کبله ده، دا که ماته د خپلې مینې پۍ راکوي، نو هغه هم ستا د پاکو او خوږو اوبو څخه پیدا شوی دی. زه د خپلې مور د سینې پۍ ښبم، مگر دا ستا د سنیې رڼې او خوږې اوبه ښبي، د دې ټول کړاو چې زما سره یې وکاړي یوازې د دې لپاره دی چې ما ستا د ساتنې دپاره لوی کړي او ستا د خدمت د پاره مې تیار کړي، که ستا محبت د دې په زړه کښې جرړې نه وې کړې، نو د دې د شفقت او مهربانۍ ونه به نه وه لویه شوې؛ نو زما د مور د دغې عاطفې اصلي سبب ته یې او د دې کوم شفقت او رحم، چې زما سره یې لري ستاله مخه او ستا په وجه دی...(۳)

د استاد صدیق الله رښتین دغه ژباړلی نثر د منځپانگې او محتوا له مخې یوه عاطفي موضوع ده چې له خپل وطن او هېواد سره د انسان د فطري مینې څرگندویي کوي. په یاده ژباړه کې د ژبنۍ فصاحت او بلاغت علاوه داسې رواني او خوږوالی تر سترگو کېږي چې د ژباړې گومان هم پرې نه کېږي او لوستونکي یا اورېدونکي ته په پښتو ژبې کې خپله تخلیق شوی ادبي نثري لیکنه ښکاري.

د یادې ژباړې ژبه سوچه، جملې یې لنډې او عبارتونه یې داسې ساده، روان او زړه راښکونکي دي چې لوستونکي یا اورېدونکي ته یې په لوستنه یا اورېدنه کې هېڅ ستونزه نه احساسېږي. د پوهاند رښتین د ژباړو ډېرې غوره ځانگړنې ساده گي، رواني، د جملو لنډوالی او د عبارتونو ساده والی دی چې ډېر لوی مطلب په لږو او مناسبو الفاظو کې ځایوي، بې ضرورته الفاظ نه راوړي، دغه ډول ژباړې په ادبي تول پوره او کره بللی شو چې خوشبختانه د استاد د ژباړو دغه ټولې ځانگړنې په پورته ژباړل شوي نثر کې لیدل کېږي.

د استاد ژباړې ساده او روانې دي، یعنې پېچلتیا نه لري، د ساده گۍ او روانۍ ترڅنگ یې خوږوالی او فصاحت د ژباړې بله ښه ځانگړنه ده، لکه: (( وطنه! د مسافرۍ او پردېسی ۴مخ



پوهنیار عصمت الله میاخېل

## د پوهاند صدیق الله رښتین د نثر هنریت

د پوهاند صدیق الله رښتین له نامه سره به څوک اشنا نه وي. د پښتو ادب د اسمان له ستورو څخه یوه رڼا ده چې دغې ژبې ته یې ارزښتناکه مرغلرې پرېښې دي. د دغه بې ریا پښتون او ځلاند ستوري نثر د پخوالي په اړه ډېر پوهان په یوه خوله دي. د استاد نثر پوخ او معیاري دی. پوهاند حبیب الله تږی په دې اړه داسې لیکي:

«رښتین د خپل وخت نومیالی لیکوال او قوي نثر لیکونکی دی چې اثار یې په متفرق او مستقل ډول سره د هېواد په مطبوعاتو کې خپاره شوي دي. نظم او نثر دواړه لري؛ مگر د نثر خوا یې له نظم څخه ډېره قوي او برجسته ده، حتی دی د خپلې دورې یواځینی لیکوال دی چې د نثر خوا یې څو ځله تر نظم قوي ښکاري. «(۷ :۱۴۲مخ). د ده د نثر ډېره ستره ممیزه داده چې د ده الفاظ تل قالبي برېښي. (۸: ۱۵۹)

پوهاند صدیق الله رښتین د خپل ادبي ژوند په اوږدو کې گڼ شمېر منثور آثار کښلي دي چې د څومره‌والي او څرنگوالي (کمیت او کیفیت) دواړو له پلوه د پوره پاملرنې وړ دي.

د لوی استاد د پېژندگلوۍ په اړه ډېرو پوهانو قلمونه چلولي؛ خو زه یې د گوتو په شمېر نظرونه لیکم، ځکه د موضوع تناب راڅخه اوږدېږي.

گیرس روسي پوهاند په خپل کتاب »پښتو ادبیاتو تاریخ « کې لیکلي: »رښتین یو ښه نثر لیکونکی او په نثر کې د بدیعي ثارو خاوند دی. د ژبې او تاریخ په برخه کې زیاته څېړنه لري. د ده د هند سفر یو په زړه پورې منلی اثر دی چې په نثر کې یو غوره او تازه اثر باله شي. «(۱۰ : ۸٦ مخ)

عبدالرووف بېنوا لیکي: ... »د رښتین صاحب د ژوند زیاته برخه د پښتو ژبې په ادبي څېړنو او علمي پلټنو کې تېره شوې او د پښتو او پښتونولۍ رښتین مین او صادق خدمتگار دی، په تېره بیا د پښتو ژبې په گرامر او فقه الغة (فلالوجي) کې ښه لوی لاس لري او د استادۍ مرحلې ته رسېدلی دی....دا خبره رښتیا ده چې ښاغلی رښتین د تظاهر طرفدار نه دی؛ بلکې غواړي لکه څنگه چې دی هغسې ځان وښیي. «(۱۰ : ۹۹مخ)

نورالبشر نوید: »پوهاند صدیق الله رښتین د افغانستان د ادب د استادانو استاذ و، هغه د افغانستان سپین ږیری زوی و. ټول عمر یې پښتون قلم د پښتو د ادب اوتاریخ لپاره د ټول افغانستان د شناخت په دود په رپېدلو لاسونو کې نیولی و او مونږ نن رښتین صاحب د رپېدلو لاسونه حرفونه داسې وایو، لکه چې هغه د خپلې خاورې په مخ د سانحې حرفونه لیکلي دي...)«(۱۰ : ۱۱٦مخ)

د پوهاند رښتین په لیکنو کې رښتینولي، خدمت، استادي، پښتنو سره مینه، علمیت او نور... له ورایه څرگندېږي. ((استاد رښتین د نوې پښتو هنري ادبي نثر له مخکښو څېرو څخه گڼل کېږي او همدې امله؛ خو د پښتو د معاصرو ادیبانو ، د نوي هنري او ادبي نثر په پرمختگ کې د یادونې او ستاینې وړ دریځ لري.)) (۹: ۹-۱۰)

د پوهاند صدیق الله رښتین لیکنې او هڅونې نه یواځې دا چې دافغان ولس لپاره لویه علمي خزانه ده؛ بلکې د لویو علمي ویاړونو ځلانده نمونه هم ورته ویلای شو.

**د پوهاند رښتین د نثر هنریت**

«د ادبي یا هنري نثر په په پنځونه یا لیکنه کې تخیل ستر نقش لري؛ خو د لیکوالۍ په دغه ډگر کې له دغه ځواک (تخیل) څخه مرسته غوښتل یواځې او یواځې تر هغې لازم دي چې پېښې ته د باورو وړ ښکلا او ځلا ورکړي، په هغې کې د منلو او کشش داسې جذبه او ځواک پیدا کړي چې زړونو ته په اسانۍ او ژر لار وکړي، نه تر دې اندازې او یا په دې بڼه چې هغه ادبي لیکنه سلیم عقل او انساني پوهې ته د منلو او قبلولو وړ ونه برېښي او په دې وسیله د خبرې ارزښت کم یا بیخي له منځه لاړ شي...)«(۱ : ۳۹مخ)

((په نثر کې هم له تشبه او استعارې څخه گټه اخیستل شوې ده، په نثر کې له تشبه او استعارې څخه کار اخیستل د مانا د اظهار ډېره ښه وسیله ده .)) (۲: ۷۹مخ)

د اوسني ادب د مشهورو لیکوالو په ډله کې صدیق الله رښتین هم د څرگند مقام خاونددی. ده د خپلو آثارو په لومړیو کلونو کې په عشقي او وطني اشعارو پیل وکړ؛ مگر وروسته یې په زیاته اندازه وطني او محیطي موضوعاتو ته مراجعه وکړه او قوي نثر لیکونکی وگرځېد.(۲: ۷۰مخ).

د استاد په لیکنو کې اصلاحي فکر او د تنقید برخې هم شته؛ خو د چړ او ځوروبې په شان شور او زوږ نه لري؛ بلکې د سیند په شان قرار او غلی روان وي او لوی لوی څټونه او کمرونه رانړوي. ..د ده د نثر ستره ممیزه داده چې د ده الفاظ تل قالبي برېښي. په نثر کې یې مستقل زیات چاپ شوي اثار لري. زما په عقیده د ((هند سفر)) د رښتین شهکار او په خپله دوره کې د نثر له مخې د پښتو یو ډېر قیمتي اثر دی.(۳ :۴۴۲مخ)

اوس د پوهاند صدیق الله رښتین د هنري نثر یو څو بېلگې دلته راوړم:

((د لمر زرینې وړانگې په ډېره خوښۍ د غرونو له شا، له تورو تیارو راووتلې. د سحر وږمه په خوند خوند راوالوتله. تنکو او مخ پټو غوټیو خپلې نازکې شونډې په خندا خندا وغوړولې او دخوشحالۍ گړیالونه وغږېدل. هغلته لرې د کلي په خوا کې د چینار دگورې ونې لاندې دپېغلو جونو د تمبل نرم پوست خوږ غږ د هوا په چپو کې په مزه مزه خپرېږي. یوه نیمه خوږه سندره هم ورسره دزړونو او روحونو د نمانځنې، تازه گۍ او ښېرازۍ د پاره ملگرتیا کوي...)) (۵: ۳٦مخ)

وگورئ د ورځې پیلېدل او د خوښۍ د انځورولو انداز یې څومره ښکلی دی. د لمر راختل او د غوټیو غوړېدل؛ خو په عادي کلمو او جملو کې هم راوړل کیږي؛ خو دلته یې د هنر په زړو پسولې جملې وړاندې کړي او خپل مطلب یې په رنگین ډول وړاندې کړی دی.

استاد په لاندې بېلگه کې د ژړا حالت او د مینې له امله ژړا د کلمو غمي د زړو په تار سره پیېلي او د قیمتي غمیو لړ یې جوړ کړی دی. بیا یې د اوښکو د تولید دستگاه څنگه ښه په سیستماتیک او علمي ډول تشریح کړې ده:

(( یوه ورځ د فکر خوب یوړم. سترگې مې پټې شوې او د خیال په بستر پرېوتم. لږه شېبه پس مې د سترگو په غولې کې اوښکې وگرځېدې. بیا یې د بڼو په څوکو لار پیدا کړه او غټې غټې مې په مخ راروانې شوې. زه حیران شوم چې دا له کومه شوې . زما په سترگو کې خو هیڅ اوبه نه وې او نه مې د ژړا اراده کړې وه. بې ارادې ژړا لا هم وي؟ زه په دې پوښتنو کې وم چې د زړه په غوږو مې یو اواز واورېد. دا اواز ددې دپاره و چې زما دا سودا لرې کړي. هغه اواز څه و؟ ویل یې چې بې ارادې ژړا نشته خوستا د ژړا سبب بل شی دی. دهغه وجود په خپله ستا د ژړا اراده ده . هغه څه شی دی؟ هغه دمحبت برېښنا او دمینې برق دی...)) (۵ :۳۸مخ)

د پښتنې مېرمنې مقام ته څومره په درنه سترگه گوري او د خپل خاوند سره یې د اخلاص مینه هم څرگندوي. دا مینه د زړه د مینې لوړ حد دی چې بالاخره په صبر او په زړه کې د پټو اسوېلیو سره ښکاره کیږي. پښتنې مېرمنې بیا هم دغه درد دردېدلي ته نه ښیي چې نور ونه دردیږي؛ بلکې ددې په مقابل کې خپله حوصله او مېړانه په ورین تندي خپل مېړه ته ډالۍ کوي او ډاډ ورکوي.

(( خندا د خپل گران بندي د تسلۍ او اطمینان د پاره وه ځکه چې پښتنې مېرمنې دخپل مېړه سره هر غم، هر کړاو او هر تکلیف په خندا خوشحالۍ او روڼ تندي تېروي. او ژړا ددې دپاره وه چې دنورو ښځو له پېغور نه ځان خلاص کړي ولې دښځو په دنیا کې د خفگان ښکاره کولو وسیله یوازې ژړا ده او بس.)) (۵ :۴۲مخ)

د الله تعالی د ښکلي طبیعت تشریح یې هم د زړو په پاڼو لیکلې ده او مرغلرو دغه هار یې په لاندې ډول پېیلی دی:

(( نمر د خپلو زرینو پلوشو په زنځیرو کې د براسونو ذرې او بخړي دوربځو ټاپوانو ته وخېژول. هلته زر زر له تاوه اوبه شول او ببرته د بوټو او ژویو د ژوندانه او ښېرازۍ دپاره زمکې ته راکوز شول.د زمکې په غېږ کې پرتو، ویدو بوټو او ۵مخ




